

# توکي او جالب معلومات

طبي او حيرانونکي معلومات سره له مزاحيه توکو

Ketabton.com

ټولونه : سهيل احمد «صفدري»

ماخذونه : حيرانونکي معلومات \ محمد الرسول حمزه او ع لټون

فسبوک پاني

د چاپ کال : 7\2021

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډالۍ**

**خپلو والدينو ته چي زه يي زده کړي ته وهڅولم او همدارنګه خپلو استادانوته چي چي ماته يي د زده کړي روحيه راکړه**

*د کتاب نوم : ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــ توکي او جالب معلومات*

*د کتاب موضوع :ـــــــــــــــــــــــــــــــــ جالب معلومات مزاحيه او عبرتناکي قيصي*

*د معلوماتو ټولونکي : ـــــــــــــــــــــــــــــــــ سهيل احمد« صفدري »*

*ماخذونه : ـــــــــــــــــــــــــــــــــ حيرانونکي معلومات ع لټون او محمد الرسول حمزه فيسبوک پاڼي*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم ط**

**له ډېره پخوا ما غوښتل یوه داسي ټولګه تألیف کړم چي نړۍ حیرانه کړم له معلوماتو ټولولو سره مي زیاته علاقه وه نو د غه کتاب په لیکلو مي لاس پوري کړ او زیات شمیر معلومات مي پکي ځای پر ځاي کړل دغه کتاب کي تقریباً ۷۰ او زیات له دي عنوانونه مو جود دي په دي کتاب کي داسي حیرانونکي معلومات شته چي د انسان له ذهن یی نه مني مګر حقیقت وي او ځیني داسي پوختني چي په اړه به یي ډیرو کمو خلکو ته معلومات وي لکه : هغه کوم حیوان دي چي نه بچي اچوي او نه هګۍ مګر نسل یي تر اوسه پاتي دي د اکثر خلکو له زیات فکر وروسته به یي جواب وي کیداي شي یو نارینه حیوان وي مګر دا کچر دی چی د آس او خر ګډ نسل دي او ځینی داسي ټوکي چي د انسان د خندولو لپاره لیکل شوي ترڅو د کتاب په لوستلو ستړي نه شئ کتاب ډیر جالب دي داسي کتاب چي په لوستلو کي د خندا سربیره د انسان د حیرانتیا سبب ګرځی په دغه ځیني عبرتناکي قیصي هم شته چي د عبرت لپاره باید ولوستل شي ترڅو باید یو انسان تري عبرت واخلي او ځیني طبي معلومات چي په اړه اکثره خلکوته معلومات نشته د کتاب په لوستلو کي ډیره عجله مه کوئ په آرام یي ولولئ او خوند تري واخلئ داسي زیات شمیر کتابونه چاپ شوي مګر دا کتاب له ټولو نه په مختلفه او نوي بڼه لیکل شوي داکتاب په ساده او روانه پښتو ژبه لیکل شوي تر څو یو ماشوم هم وکولاي شي تري ګټه واخلي دا کتاب ولولئ او خوند تري واخلي**

**مننه**

**وسلام**

**سهیل احمد «صفدري»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آیا زحل سیاره پیژنی ؟

د شمسي نظام شپږمه او د تن و توش له لحاظه دوهمه سیاره ده . دا سیاره زرد رنګ او د سست سرعت لپاره د پخوانی زمانی څخه مشهور پاته شوي ده . دا سیاره د ښایست له لحاظه په معلوم کائنات کي شاید په لومړي نمبر کي وی . د دوربین - څخه دده د رنکه خالی په کتولو سره ډېر خوند کوي . دغه ښکلی هالو دده زرد جسم په آغوش کي اخیستو سره دده حسن یي ډبل کړی دی . دا سیاره له مشتري څخه ډېره کوچني ده . دده ټوله استوائی قطر ۱۲۵۳۶ کلومتر ( ۷۴۵۵۲ میله ) او قطبي قطر ۱۰۷۹۸۲ کلومتر ( ۶۷۰۹۷ میله ) دی ، دا هم مشتري په څیر په قطبینومښتی ده . د لمر په شاوخوا د یو څرخ د ځمکي په ۲۹،۴۵۸ کلونو کي پوره کوي ، مګر د خپل محور په شاوخوا ۱۰ ساعته او ۳۹ دقیقو کي څرخیږي . دا وقفه دده خط استوا د حرکت ده مګر د خط استوا په شاوخوا د وقفه کم ده یعني دده محوری حرکت د خط استوا په نسبت په نورو برخو کي زیات دی . ددغه لامل ځمکه خو کلکه او جامد ده نو په دغه خاطر محوری حرکت یي هر ځاي یو رقم دی مګر د زحل سطحه کلکه او جامده نه ده نو په دغه خاطر دده سرعت هر ځای یو رقم نه دی . د لمر څخه دده فاصله ۱،۴ بیلونه کلومتره ده ( ۱،۴۲۶،۶۶۶،۰۰۰ ) . ددی حجم د ځمکي د حجم ۷۱۴ برخه ده . مګر د کثافت د کم کیدو له امله دده وزن د ځمکي د وزن یوازي ۹۵ واری دی . ددی مجموعی کثافت اضافی د اوبو څخه لا کم دی او د ځمکي کثافت اضافی دا یوازي ۸۷ ، ۱۲ برخه ده . بس د زحل څخه کوم ټوټه که پری کول شي او اوبو ته واچول شي نو هغه به او بازی وکړی.د خپل مدار سره دده محور ۲۶،۷۵ درجی زاویه جوړوي ، په دغه معامله کي دا خو تقریبا د ځمکي په څیر دی ، مګر دده خپل مدار هم تقریبا د دایره البروج سره نیمه نیمه درجه زاویه جوړوي . د زحل د سطحي په قطبینو باندی د شیانو وزن د ځمکي په مقابل کي اووه فیصده پورته ښي . تر اوسه پوري دده ۱۹ سپوږمۍ یي په یقیني توګه رسیدلی دي . په دغه کي د فوبیا په نوم سپوږمی ډېر مشهوره ده د کوم جسامت چي د یو غټ شهاب ثاقب غوندی دی او بل د تیتان په نوم سپوږمی هم شهرت لری د کوم قطر چي د ځمکي د سپوږمی د قطر ۱،۸۷ برخه یعني په تقریبی توګه دومره ده . تیتان د زحل په شاوخوا په ۱۶ ورځو کي یو څرخ مکمل کوي او د ماهرینو په نزد دده فضائی حالت د ځمکي د ابتدائی فضائی حالت سره مشابهت ساتي . البته د لمر څخه د زیاتی فاصلي له امله دده د حرارت درجه ډېره کمه وي . دغه وخت دده د سطحي د حرارت درجه ۱۳۹- سانتیکرید ده او دده د فضا فشار د ځمکي د فضا له فشار څخه تقریبا ۶۰ فیصده زیات دی . د خپل قدرتی ښکلا له وجهي زحل ته د معلوم کائنات تر اوسه پوري یو شهزاده ویل کیدای شي . دده هالو دده په جسم کوم حسن پاشلی دی په دوربین باندی په لیدو سره معلومیږي . دا هغه وخت ډېر ښکلی ښکاري چي زحل د طیاری د په هوا کیدو د ابتدا په څیر حرکت وکړی . په دغه وخت دده د هالونو د رنګونو خلا سترګی ډېري اوبه کوي.زحل چي د خپل مدار سره تقریبا ۲۷ درجی زاویه جوړوي په همدغه خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل ۳۰ کلن دور یا دوره کي تقریبا ۱۵ کاله دده د هالونو کم ویش پورتني برخه په نظر راځي او بیا ۱۵ کاله دده زیرین یا لاندني برخه . په منځ کي دوه واری داسي وخت راځی چي زموږ لپاره د زحل استوا بالکل مستقیم وي . په دغه وخت دا هالوګاني یوازي یو وار د یو خط په څیر په نظر به راشي . دده څلور نور هالوګاني هم دریافت شوي دي نو په دغه خاطر د دوي ټوله تعداد اووه دی . لکه څرنګه په دغه نوي څلورو کي رڼا ډېر کمه وي نو په دغه خاطر ځمکي څخه په نظر نه راځي.تر ټولو نږدې هاله د زحل دوریځو وروسته دده له مرکز څخه ۶۶۷۱۱ کلومتر په فاصله کي شروع کیږي ، نو دغه رقم له مرکز څخه هاله ج ۷۴۵۲۰ کلومتر ، هاله ۹۱۹۵۳ کلومتر ، هاله الف ۱۱۸۳۹۷ کلومتر ، هاله دال ۱۴۰۰۳۳ کلومتره ، هاله ز ۱۷۰۰۸۳ کلومتره او هالهه ۲۹۴۴۹۰ کلومتر له فاصلي څخه شروع کیږي . په دغه کي صاف معلومیږي چي د نومانو ترتیب یي د مرکز څخه د فاصلو په بنیاد نه بلکه د دوي په دریافت کیدو باندی ایښودل شوي . د بعضي هالو تر منځ خلاء ده په دغه کي د شینتي فرقانی پټی ( ا ، ب هالونو تر منځ او د دوي فرقانی پټی ( ابي هالوګانو تر منځ زیات واضح دی) که ددغه هالوګانو هغه عکسو ته وکتل شي کوم چي له نږدې څخه اخیستل شوي وي نو دوي په اووه هالوګانو کي محدود کول به مشکل شي ولي چي دا لاتعداده هالوګاني دي البته په اوو هالوګانو کي د دوي پند تقسیم دی . که تاسو په ګوګل کي وګوری نو ددغه هالوګاني محدود ښودل شوي دي او ددغه علاوه په دغه کي د زحل د پنځه سپوږمیو مدارونه هم ښودل شوي دي . ددغه هالوګانو جوړښت ساینسپوهان یي تر یوڅه وخته پریشانه کړي د ډاپلر شفت له طریقی څخه کله چي ددغه هالوګاني په خاص سمت یا لوري کي سرعت معلوم کړل شو نو معلومه شوه چي دغه هالوګاني د زحل سره په کلکه توګه تړل شوي نه دي بلکه د کیپلر قانون په مطابق کوم چي دباندی هالوګاني دي د دوي سرعت دي

## د نړۍ تر ټولو چټل سړی

د نړۍ ترټولو چټل سړي ساکل ډيوې نوميږي، 63 کاله عمر او د هندوستان هيواد اوسيدونکي دي. ساکل له 1979ميلادي کال راهيسې چې تقريباً 42 کاله کيږي، خپل ويښتان يې نه دي پرې کړي، او نه يې هم وينځلي دي، چې اوس يې د ويښتانو اوږدوالي تر 2 مترو پورې رسيږي.نجس وايي: چې ويښته د الله تعالی له لوري يو لوي نعمت دي، او نوموړې ادعا هم کوي چې يو ښه سړی ماته په خوب کې ويلي دي، چې ويښتان مه کموه، نو ځکه دي واي چې زه د هغه ښه سړی لارښوونه له خوب ليدلو راهيسې تعقيبوم او پرې عمل کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ویټامین بی دوه ( Vitamin B2 ) Riboflavin

په اوبو کی منحل ویټامین دی چي د کیمیا دنظره **Hetro Cyclic** دي چی د **Ribitl** سره وصل دي رابیو فلاوین یوه رنګه صباغ دی د حرارت په مقابل کي نسبت مقاوم دي ولی که زیات د شعاع سره مخامخ شي د منځه ځی رابیو فلاوین د نباتاتو او د مایکرو اورګانیز مونو د حیوانی منابعو څخه ترکیب کیږی اود کیمیاوی تعامل په نتیجه کي د خمیرمايي څخه په لاس راځی اوپه **Oxidative** عمل کی داخلیږی دا ماده لمړی د زیړ انزایم په نوم یاده شو اوپه کال 1938 عسیوی کال د امریکا د طبی اتحادی دواسازئ اود کیمیا د کونسل لخوا د **Rib Flavin** په نوم یاد شو رابیو فلاوین په کولمو کی جذب کیږی هغه انزایم چی د رابیو فلاوین په تعامل کی برخه اخلی د **fluavokinas** په نوم یادیږی .

د #رابیو فلاوین وظـــایـــف :

په حجروی تنفس کی رول لری

د نیساین د استقلاب لپاره ضروری دی

د غداواتو وظایف تقوی کوی

د سترګو د حجراتو لپاره ضروری دی

مـــــنـــــابــــع :

شیدی , غوښه په عضوي انساجو کی لکه کبد , پښتورګی په زړه کی ماهیانو , سبزیجاتو کی اوپه حبوباتو کی اود غنمو په اوړو کی زیات اندازه پیدا کیږی .د رابیو فلاوین فــقـــدان ( کموالی په صورت کی ) د نمو وروستوالی یا تنقینص په سترګو کی تغیرات لکه د منظمی التهاب اود **Caturuct** ( ړوړندوالی ) د لمر په مقابل کی حساسیت د سترګو تخریش او سوزش د سترګو وچوالی او سوروالی د خولی په جوف او شونډو کی افات راپیدا کوی د ژبی سوروالی همدارنګه د پزی او عوږونو افتونه راپیدا کیږی او کموخونی یا **anemia** منځته راوړی او جلدی افتونه هم منځته راوړی .

ورځـــــنــــی احــتـــیـــاج :

د کاهلانو لپاره mg 18_25 پوری دی

په لاندی حالتو کی ددي ویټامین ضرورت زیاتیږی

1 __ د شکری په ناروغانو کی

2 __هغه ناروغان چی محدود غذایی رژیم اخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



3 ___کله چې د رابیو فلاوین اطراح زیات شی د عضویت څخه

**#طبیعي_درمل_انګور_وپیژنئ!**

دا میوه د ویټامین A، B، C، E او معدنیاتو لکه کلسیم، فاسفورس ، اوسپنه ، پوتاشیم ، منګنیزیم ، کلورین ، آئوډین او سیلیکان څخه ډکه ده.انګور ډیره اوبه لري چې دماشوم هایدرید اوبو رسونې کې مرسته کوي او هم دکولمو حرکتونو تنظیم کولو کې هم مرسته کوي.د انګورو په اړه حیرانونکي خبره دا ده چې دا انفلاسیون ضد دي او له همدې امله دالرجي نښې کموي لکه دپزې الرجي (زکام) لپاره زیات ګټور ده.انګور دپښتورګو تیږو (ډبرو) خطر کموي.انګور په کلسیم کې بډایه دي، کلسیم دماشوم غاښونو او هډوکو د ودې لپاره اړین دي.

**د نړۍ ترټولو کوچنی کیمره**

د نړۍ تر ټولو کوچنی کیمره د نیکون کمپنی لخوا جوړه شوه،دا کیمره یوازې 11ګرامه وزن لري.او په پوره توګه د ویډیو اخیستلو وړتیا لري،او ددې کیمرې بټري تر 30 دقیقو پورې چارج ساتلی شي!

د ثبوت لپاره د ع لټون فیسبوک پاڼه وګورئ

**په سمندر کې روښانه ستوري؛**

د مالدیپ هېواد 《Vaadhoo》 ټاپو یو ډېر ښکلی او ځلېدونکی ټاپو دی، ددې ټاپو په ساحل (د سمندر په غاړه) دشپې له خوا په اوبو کې په طبیعي ډول ډېري حیرانوونکي او ښکلي رڼاګانې لیدل کیږي، لکه په آسمان کې چې ستوري وي، دا یو ډېره ښایسته منظره جوړوي. دا سمندر داسې معلومیږي لکه په میلیونو کوچني ستوري چې په اوبو کې دننه رڼاګاني کوي. تر اوسه ساینسپوهان دې پېښې ته کوم منلی ځواب نلري. دا سمندر دنړۍ له ویښوونکو ځایونو بلل کیږي. مالدیپ یو ډېر ښکلی اسلامي هېواد دی، او سل سلنه وګړي یې مسلمانان دي.

**د ګوګل کمپنۍ په اړه**

که چیری د ګوګل کمپنی یو کار کونکي مړ سی نو بیا به هم د هغه کور ته د هغه نیم معاش تر 10 کالو پوری ورکول کیږی او د هغه کوچنیانو ته تر نولس کلنی پوری هره میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



$1000 ورکول کیږی.ګوګل نو هغه کمپنی ده چی کارکونکی یی د پوهنتون د ماستری یا پی ایچ ډی اسنادو پر اساس نه نیسی بلکی د هغوی د استعداد پر اساس یی نیسی.

**د غوماشي ډېر حيرانوونکی جوړښت؛**

"غوماشي" ښايي انسانان يې ډېر کمزوری مخلوق وګڼي، خو داسې نه ده، غوماشي ډېر پېچلی جوړښت او زيات کمالونه لري. سترګي: که غوماشه تر مايکروسکوپ لاندې ونيول شي او له خپلي اندازې 【۴۰۰】 ځله غټه کړل شي، نو به وليدل شي، چې د غوماشې په سر کـــې 【۱۰۰】 سترګې وجود لري، هره سترګه يې دانسان د سترګو په څېر فعاليت کوي او همداسې جوړښت لري، خو انسان په خپل سر کې يوازې دوې سترګي لري. زړونه: غوماشه درې زړونه لري، يو يې مرکزي زړه دی، چې په سينه کې يې پروت دی، دويم او دريم زړونه يې په وزرونو کې پراته دي، هر زړه يې بېلا بېلي چاري ترسره کوي. همداراز غوماشی په هر طرف کې درې وزرونه لري. خوله : غوماشی په خپله خوله کې 【۴۸】 غاښونه لري.همداراز غوماشه په خپله مښوکه کې 【۶】 چړې لري، څلور يې د انسان بدن ته ور ننوزي او دوې چړې بيا يو نل غوندې شکل جوړي او وينه ور ځيني کشوي.نشه_کول: غوماشه په خپل نس کې يو ډول نيلي رنګه مواد لري، چې کله انسان چيچي نو لومړی يې د څو ثانيو لپاره نشه کړي، ددې لپاره مړ يې نکړي، انسان هغه وخت خوږ احساسوي چې کله يې غوماشه وخوري او ورڅخه ولاړه شي.وينه: غوماشه په خپل نس کې يو ډول مواد لري، هغه وينه چې ډېره خټه وي، نو لومړی هغه مواد ور خوشي کړي، کله چې وينه نرۍ شي، نو بيا يې ورڅخه وزبېښي.همدارنګه غوماشي په خپل بدن کې يو لابراتواري سيستم لري، هغه د ويني معلومات ورته کوي، صفا او خوږه وينه ورته ښيي او بيا يې زبېښي، ځکه غوماشي هر ډول وينه زبېښي. وړانګي: دغوماشې په بدن کې د حرارتي وړانګو داسې سيستم شته چې که هر څومره تياره وي، د انسان پوستکی ورته په بنفشي رنګ اړوي، چې له دې رنګ څخه غوماشي ته د انسان بدن ډېر ښه معلوميږي، داسې وړانګي دي، چې انساني پوځي ځواکونه يې د ځراغونو په شکل د شپنيو عملياتو لپاره کاروي، هغه چې په توره شپه کې هر څه ورته معلوميږي، غوماشي هم همداسې ځراغونه لري. بويول: غوماشي د بويولو داسې ځواکمن حس لري، چې تر 【۶۰】 متره وړاندې د انسان د خولو بوی حس کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د سترګو شاوخوا تور داغونه لاملونه

(①)/ لږ خوب کول(②)/ د ويني کمښت (بې وينه کيدل)(③)/ نامناسبه تغذيه ( ناسم شيانو خوړل)(④)/ د پښتورګو ستونزې (پښتورګو ناروغي)(⑤)/ د ويټامينونو نشتوالی(⑥)/ په ناپاکو اوبو لمبيدل يا اودس پری کول(⑦)/ سټريس يا خپګان(⑧)/ د ميراث عوامل( له پلارونه او کورنی څخه پاته ناروغ)(⑨)/ د هوا ککړتيا(⑩)/ د پوټکي ستونزه

### د هګۍ حيرانونکي ګټې

په نړۍ کی به ډير کمي داسي غذاګاني وی چي د هګۍ هومره ګټي دی ولري هسی هم د هګيو بی شميره ګټي دی خو له دی څخه پنځه مهمی ګټي يی په لاندي ډول دي چي له همدې کبله ورته سوپر فوډ وايي د سترګو لپاره تر ټولو ګټور مواد په هګۍ کې شته چی د **Lutein** او رکيستين کيراټيناېد نوميږی دا دواړه اجزاوی د بل هر غذا څخه زيات په هګۍ کې په آسانۍ سره موندل کيږی نو په دی خاطر ويلي شو هغه کسان چی په ورځني ژوند کې روزانه هګۍ خوری د سترګو د کترکت «کمزوري » په ناروغۍ نه اخته کيږي ګټور کوليسترول : په يوه هګۍ کې تقريباً ۲۱۲ ملی ګـرامه کوليسترول موجود وي خو له نيکمرغه دغه کولسترول يو ډول ګټور کوليسترول دی او په وينه کې مضر کوليسترول زياتيدو ته نه پريدۍ د زړه د ناروغيو څخه د ژغورلو لپاره هګۍ ګټور دی په هګۍ کې شته کوليسترو د **HDL** له نوعی څخه دی کوم چي د صحت لپاره زيانمن ندی پدی وجه د زړه او نورو ناروغيو خطره کموي هګۍ د پروټين زيرمه ده په يوه هګۍ کې تقريباً ۶ ګـرامه د لوړي کچي پروټين شته او د انسان د ضرورت وړ ټول ۹ واړه امينو اسيدونه هم پکې شته پروټين د انسان په وده کې له اړينو عناصرو څخه شميرل کيږي چي په ځانګړي ډول د ودی په حال کې ماشومانو ته ډير ګټور دی د کولين بهترينه زيرمه په هګۍ کې ده د يوی هګۍ ژيړ تقريباً ۳۰۰ مايکروګرامه **Choline** لری دغه کولين د دماغو،عصبی سيستم او د ويني دوران په غوره ساتنه کې مهم رول لري د هګۍ پورتنی ګټي په يو وخت په نورو غذاګـانو کې په ډيره مشکله سره پيدا کيږي نو پدی خاطر ويلي شو د هګۍ ورځيني استعمال د ښه صحت ضمانت کوي.

### د نن نړۍ تر ټولو ظالم انسان وپيژنئ

**Brendan Greene** ميلياردونو ځوانانو ذهني قاتل دی، دا په 21 مې پيړۍ د ځوان نسل لپاره تر ټولو ظالم انسان دی. نوموړي ځوان نسل له لويې تباهۍ سره مخ کړ، هغه تباهي چې له منځه وړل يې ناممکن دي.**(Brendan Greene)** 37 کلن دی.نوموړي د لومړي ځل لپاره د **(PUB.G)** ګېم اختراع کړ.ښاغلي ګريني د نړۍ هر ځوان ته ذهني او رواني ناروغي پيداکړه، ددې سره يې د ځوانانو درس، اقتصاد او وخت ته سخته ضربه ورکړه، او ټول يې ور څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوټ کړل. پر **(POB.G)** ګېم په نړۍ کې هر کال بېځایه ټرېلیلیونه ډالر مصرفیږی. همدارنګه نوموړي ګېم افغانستان کې هم په پراخه توګه مینه وال پیداکړي، یوازي په 2020 کال کې پر پاپجي **(PUB.G)** ګېم په افغانستان کې 16 میلیارده افغانۍ مصرف شوي دي.

## د ګنیو د اوبو له ګټو خبر یئ؟

د ګنیو اوبه ډیر قوي غذایي مواد لري، چې د بدن مقاومت د ډیرو خطرناکو نارغیو پر وړاندې زیاتوي او د مرض پر خلاف د انسان په بدن کې د ډال رول لوبوي.دلته مو د ګنیو د اوبو څو مهمو ګټو سره آشنا کوود ګنیو اوبه د ستوني د خارښت، زکام او د نیمه سر درد لپاره یو ډیر مؤثر کورنی علاج ګڼل کیږي.د زیړي د ناروغۍ لپاره د ګنیو اوبه تر کومه اکسر کمې مه ګڼئ؛ ځکه چې د ګنیو اوبه په بدن کې د ګلوکوز سطحه نورمال حد ته رسوي او د ناروغ په ژر رغېدو کې مهم رول لوبوي په تبه اخته ناروغانو ته د ډاکټر لخوا د ګنیو د اوبو د استعمال مشوره ورکول کیږي.ګني د سکروس په نامه خواږه مواد لري، چې د ټپونو ژر رغېدو کې د پام وړ مرسته کوي د ګنیو اوبه په تناسلي آله کې د سوي تر ټولو غوره او طبیعي علاج دی.د ګنیو اوبه په بدن کې د کولیسټرول د زیاتېدو مخه نیسي او په دې توګه د زړه د ناروغۍ خطر تر ډیره بریده کموي. په ګنیو کې د الکلوی په نامه ماده موجوده ده، چې دغه ماده انسان د غدې او سینې له سرطانه ژغوري.ګني د زیات مقدار کلسیم او فاسفورس د لرلو په خاطر هډوکي تقویه کوي.مختلفو ځیړنو ښودلي ده، چې د ګنیو اوبه ځیګر او ګردې په طبیعی توګه صفا او د فعالیت کچه یې لوړوي.له ګنیو څخه لاسته راغلې ګړه د اوسپینې غوره منبع ده.

## د غاښو د درد اسانه درملنه

په دری ژبه کې یو متل دی وایي: درد دندان کندن. مګر دا سمه نده د غاښو درد علاج لپاره ساده اسانه او کم مصرفه طبیعي او روایتي علاجونه شته چې ځینې یې دلته لوستلای شئ!

اوګه: د چټک تاثیر لرونکی نبات دی یوه دانه د غاښ د درد په وخت خوله کې میده کړئ تر څو اوبه یې بیمار غاښ ته ورسیږي تاثیر یې وګورئ که مثبت نه وه نو ژر یې بهر وغورځوئ ترش لیمو: د لیمو اوبه د مالوچ په وسیله درد لرونکي غاښ باندې واچوئ لیمو چې د ویټامین سی لرونکی دی کولای شي د غاښ درد کنټرول کړي.نعنا: تازه او یا هم وچه نعنا را واخلئ په درې ګیلاسه اوبو کې جوش کړئ وروسته یې د نیم ساعت لپاره درې ګیلاسو کې واچوی چې یو څه ترمې شوي نو بیا هر ګیلاس د ۳۰ ثانیو لپاره غرغره کړئ. په همدې ډول سره تور چای هم د غاښو درد لپاره کارولای شئ. مالګه: په یو ګیلاس جوش اوبو کې یوه قاشوغه مالګه واچوئ نیم ساعت وروسته یې د ثانیو لپاره غرغره کړئ.زنجفیل: که تازه زنجفیل مو درلود نو څو څاڅکي اوبه یې د مالوچ پوسیله غاښ باندې کیږدئ، که تازه زنجفیل مو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده د وچ زنجبيل ځخه د نعنا په شان چې طريقه پورته ذکر شوې ګټه واخلئ. د تازه زنجبيل اوبه لږ زيات وخت ته ضرورت لري چې د غاښ درد کنټرول کړي. يخ: څو ټوټې يخ په يو پلاستکي خلطه کې د اوبو د ضايع کيدو په خاطر واچوئ وروسته يې په يوه تکه کې ونغاړئ او پر بيمار غاښ مو د پنځلسو دقيقو لپاره ونيسئ د غاښ درد به مو ارام شي.کنډ: د ميوو لرونکو ونو کنډ يعني زاوله د يوې قاشوغې په اندازه يو ګيلاس اوبو کې جوش کړئ له ۳۰ دقيقو وروسته يې پنځه يا شپږ ځله غرغره کړئ د غاښو درد آراموي.د لونګ غوړي: دوه ځاځکي د لونګ غوړي په يوه مالوچ باندې واچوئ د نيم ساعت او يا هم لږ زيات وخت لپاره يې پر درد لرونکي غاښ کيږدئ که فرض مثال غوړي يې موجود نه وي نو يوه دانه لونګ را واخلئ خوله کې يې په غاښونو باندې ښه ميده کړئ بيا يې د بيمار غاښ لورې ته ورنږدې کړئ ترڅو درد يې آرام شي. پياز: لومړی د پياز پوټکی لرې بيا يې اوبه وباسئ يو يا دوه ځاځکې اوبه يې د مالوچ پواسطه پر هغه غاښ کيږدئ چې درد کوي، له پنځلسو دقيقو ترنيم ساعت پورې درد آراموي او خپله پياز هم کارولای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دشپې لخوا په رڼا کې خوب کول دماغ ته نقصان رسوي!

خوب د الله جل جلاله یو له بې مثله نعموتونو څخه دی او الله جل جلاله فرمایی؛ "خوب ستاسو لپاره ارام او سکون دی" داچې اوس خوب په رڼا کې ښه دی او که په تیاره کې؟، ساینس پوهانو پردې څیړنه کړېدې، ساینس پوهان په دې اند دي چې په رڼا کې خوب و دماغو ته نقصان رسوی د (سوسایټی فارنیوروساینسز) په کلنی غونډه کې یو لوی نظر دا ورکول شو چې هغه کسان چې په رڼا کې خوب کوی په هغوي کی روحی تکلیف(**Tensio, Depression**)

اوفشار زیات دی، اونښې نښانې ئې له ورایه معلومیږی، او هغه کسان چې د اتو ساعتونو لپاره په تاریکه کی خوب کوی، په دې کسانوکی هیڅ د روحی تکلیف او فشار نښې نښانې نه معلومیږی. دانسان دماغ په رڼا او په تیاره کی مختلف هارمونونه پیداکوی، هغه هارمونونه چې په رڼا کی پیداکوی هغه تر هغو هارمونونو چې په تیاره کی ئې پیداکوی ډېرګټور دي ـ اوبله دا چې په تیاره کې د خوب حرکت (**Cycles**) ډېرښه وی نسبت رڼا ته، او په رڼا کې سترګې داسی اشارې ماغو ته لیږی چې دماغ پوره ارام ته نه پریږدي. داخبره په (بیهیویرل برین ریسرچ) څیړنیزه جرېدې کې نشرشویدی

## د شاتو مچۍ په اړه خوندور معلومات

د شاتو مچۍ تقریباً تر ۴۰ ورځو (لهٔ ۵ تر ۶ اونیو) ژوندۍ وي، په دغه موده کې د شاتو مچۍ تقریباً په ۲۰۰۰ ګلانو راګرځي، د دې لپاره چې تقریباً ۷ ګرامه شات تیار کړی شي چې اندازاً لهٔ یوې کاشوغې سره برابر دي.مونږ یې د یوې کاشوغې په توګه استعمال کړئ او نوش جان یې کړئ.خو حقیقت دا دی چې دغې د شاتو مچۍ انسان ته د یوې کاشوغې شاتو د تیارولو لپاره خپل ټول ژوند قربان کړ. که تاسې د خپل رب نعمتونه وشمېرئ نو نشئ یې شمارلی.

## چین درستې نړۍ ته وړیا انټرنیټ ورکوي

موږ او تاسې خو چې ډېر زور ووهو نو یوازې څو جي بي انټرنیټ په سلګونو افغانیو واخلو او هغه هم راڅخه کمپنۍ غلا کړي، خو نوی خبر دا دی چې یوې چینایي کمپنۍ تابع نیولې چې در ټولې نړۍ ته به وړیا انټرنیټ ورکوي. د لنک شیور نیټورک په نامه یوه چینایي کمپنۍ وایي، دوی به تر دوه زره شپږ ویشتم کال پورې فضا ته دوه سوه او دوه اویا سټلایټونه ولیږي چې ټوله نړۍ به یې محاصره کړې وې. دغه سټیلایټونه به نړۍ ته انټرنیټ ورکوي، هغه هم په بشپړه توګه وړیا. په 2018 د دغې کمپنۍ لومړنی سټلایټ فضا ته ولیږل شو ،په دوه زره شلم کې لس نور سټلایټونه ولیږل شول او تر دوه زره او شپږ ویشتم پورې به دوه سوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه اویا سټلایټونو په فضا کې د ځمکې پر مدار وچورلي. دغه کمپنۍ وايي، دا مهال په نړۍ کې ځلور میلیارډه انسانان انټرنیټ نه لري، خو دوی چې بریالي شي، بیا به داسې څوک په نړۍ کې نه وي چې موبایل ولري او انټرنیټ پکې نه وي. اوس چې کوم کسان د **driod vpn** کوم انټرنټ کاروي دا همغه سټلایټ مګر دا اوس د چین په شا او خوا کي کار کوي او په افغانستان کي هم ځکه افغانستان د چین سره پوله لري

**تاسو پوهیږی!**

سامسنګ **(Samsung)** کمپنۍ پخوا ماهیان او سبزیجات خرڅول.وروسته د 1971 څخه یې بیا برقي شیان خرڅول پیل کړه، او اوس ددې کمپنۍ موبایلونه چې ډیر خلګ یې خوښه وي

**انسان ارزښت**

که هر انسان د خپل بدن هر غړی خرڅ کړي، نو ددې ټولو غړو په خرڅولو سره به 45 $ مـــــیلیون ډالره به وګټي.( یعني د هر انسان د بدن د غړو ارزښت 45$ ډالره دی)

**د هلمند د باستین ښارګوټي په اړه جالب معلومات؛**

د باستین کمپ**(Bastion copm)** په لومړي ځل پر افغانستان د امریکا له برید وروسته په افغانستان کې د جګړې لپاره د برطانیا هېواد له خوا په 【2006】 کال د هلمند په یوه لویه دښته کې د 【57】 تنه عسکرو او یو څو خېمو سره یې په جوړول پیل وشو، چې وررورسته د برطانیا د "ریډینګ" ښارګوټي په څېر په یوه لوی داخلي ښار بدله شوه، دا لویه اډه له دویمې نړیوالې جګړې وررورسته د برطانیا تر ټولو لویه اډه وه. دغه لوی ښارګوټي (اډې) درې برخې درلودې، 【9500】 برطانوي سرتېري په باستین اډه کې، 【18000】 امریکایي سرتېري په لیترنیک اډه کې، او 【5000】 افغان سرتېري په ښورابک اډه مېشت و. باستین اډې د لندن د یو لوی هوایي ډګر په څېر مساحت درلود، چې د 【130】 میلیون پونډ ځغاست لیکي په لرلو سره یې هره ورځ له 【600】 تر زیاتو الوتنو ظرفیت درلود.د هلمند د باستین داخلي ښارګوټي دننه له هر رنګه آسانتیاؤ څخه برخمن و، 【28000】 زره نظامي سرتېري، 【4032】 قراردادیان، 【3080】 موټر او درانه ماشینري سیسټونه، 【50】 پیاوړې او عصري نظامي الوتکي او یو لوی هوایي ډګر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



【1206】 ساتونکي خېمې، يو د هر رنګه طبي وسائلو لرونکی ايمرجنمسي روغتون، د اوبو د بوتلونو ډکولو يوه لويه فابريکه، حمامونه، زيات تشنابونه، سپورټي مرکزونه، راډيو او نور هر څه يې درلودل.د باستن لويه اډه اته کاله د افغان جګړې لپاره وکارول شوه، دا اډه د بليون کمپ اډه وه، او برطانويانو ورته په تاج کې غمی ويل. خو له شل کلنې بې‌پايلې جګړې وروروسته دې لويې اډې هيڅ ګټه ونکړه، يوازې يې برطانيا درنه مالي بيه پرې کړه، د امريکاو او ط. البانو ترمنځ لاسليک شوي تړون کې چې د ټولو بهرنيو ځواکونو د وتلو پرېکړه وشوه، برطانويانو ددې اډې په ويجاړۍ لاس پورې کړ، نېټ په نېټ يې ښېرته هر څه خلاص کړل، ډېر توکي يې بېرته تر برطانيا ورسول، او نور زيات شمېر توکي يې دلته پرزه پرزه او له استعماله وايستل، څلور مياشتې يې ددې اډې پر ويجاړولو تېر کړل، ټول امريکايي او برطانوي سرتېري او قراردادیان ور څخه ووتل او نه يوازې چې دا اډه يې خالي کړه، بلکې د استعمال ډېره برخه يې په بمونو والوزل او په بشپړه توګه يې ويجاړه کړه.

### د الاسکا هيواد ښار

د الاسکا هېواد په بارو(**Barrow**)ښار کې چې کله لمر د نومبر مياشتې په اتلسمه(۱۸مه) ښکته شي بيا د جنوري مياشتې په دروېشتمه(۲۳مه)راخيژي او په دغه جريان کې په دغه ښار کې ۶۷ ورځې شپه/تياره وي.

### آيا پو هيداست؟

بيلا حديد (**Bella Hadid**) يوه له ښايسته ترينه ښځو څخه ده څخه ده ننې ساينس پر اساس ددې مخ تر ټولو ښه جوړښت لري يعني 94.35% ددې مخ په بشپړ ډول جوړدي.

### انــتی بــیــوتــیـــک درمــل ( میکروب ضد درمل )

د هغه دواګانو څخه عبارت دی چې دانتاناتو په تداوی کی استعماليری چې دميکروب د مړينی اويا نشونما د توقف سبب کيری او دانسان پر وجود سمی يعنی زهری تاثير ونلری . د ميکروب ضد درمل يوه مشکله مسله ده چې کلينکی قضاوت او مکمل فارمکولوژي او يا مايکروبيولوژي معلومات ايجابوی .د ميکروب ضد درملو څخه هدف دادی چې په پتوجن يا مرضی مکروب باندی تاثير ولری او ډير کم جانبی عوارض ولری .لمړی بايد تصميم ونيول شی چی مکروب ضد درمل ضروری دی اوکنه . ځکه په هر تبه لرونکی ناروغۍ کی اويا وايروسی انتاناتو کی مؤثر نه وی بلکی خطرناک وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندی نقطی د انتی بیوتیکو په انتحاب کی رول لری :

- تشخص ( **Diagnosis** )
- د ناروغ اعراض
- د انتان موقعیت
- د ناروغی تاریخچه

په شدید انتاناتو کی ښه ده چی ایمپریکل تداوی د دوه یا څو انتی بیوتیکو په واسطه چی وسیع الساحه تاثیر ولری چی په ټولو میکروبونو باندی تاثیر ولری اجرا شی . مگر کله کله د انتحابی انتی بیوتیکونو او معقول تداوی سره سره دمیکروب ضد دوا نتیجه نه ورکوی دلایل ی په لاندی ډول دی

هر کله که د درملو کم مقدار تطبیق شی .

- هر کله که تداوی مدت کافی نه وی .
- ممکن درمل په درست ډول تطبیق شوی نه وی .
- کیدای شی کوم بل میکروب هم موجود وی .

د انتان ساحه :

ددي لپاره چی درمل موثر تاثیر وکړی هغه درمل انتحاب شی چی په ساحه کی کافی غلظت منځته راشی . لکه **Clindamycine** دماغ ته نشی داخلیدلی نو ځکه په دماغی افاتو کی نه استعمالیږی یا **Erythromycin** د ښتورگو د لاری په کم مقدار اطراح کیری نو ځکه د بولی طروق په انتاناتو کم استعمالیری . برعکس **Ampicilline** او **Amoxicillin** په ډیر مقدار صفر ته داخلیری نو ځکه دصفرا کڅوړی په التهاب کی گټور تمامیری .

هغه عوامل چي ناروغ پوری اړه لری :

د میکروب ضد درملو څخه مخکی لازمه ده چی د ناروغ د لاندی حالتو څخه ځان خبر کړو د مریض عمومی وضیعت .

- د مریض دفاعی معافیت میکانیزم .
- د ښتورگو او جیگر له وظایفو .
- همدارنگه **Lactation** ( شیدو ورکولو ) او **preganacy** ( امیدواری ) په هکله معلومات ترلاسه اوبیا درمل انتحاب شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقايوی انتی بيوټيک يوازی په لاندی حالتو کي استعماليری :

- د ستريپتيکوک انتاناتو وقايه په قلبی روماتيزم کی .
- په هغو خلکو کی چی د زړه مصنوعی دسامات ولری .
- د غاښونو د ويستلو څخه مخکی .
- په هغو اشخاصو کی چی د ناروغانو سره په تماس کی وی .
- همدارنګه د هضمی جهاز دعملياتو څخه مخکی .
- هسترکتومی ( د رحم د عضوی لری کول )
- سزارين ( دعملياتو له لاری د ماشوم راوړلو پر وخت )
- د **Amputation** ( قطعه کيدل د يوې عضوی )
- خلاصو کسرونو کی .

اوس تاسو ته د انتی بيوټيک کورنۍ درپيژنو چی هره کورنۍ به بيل بيل په راتلونکی ټولګه کی درته تشريح شی

**Anti Biotics Drugs Familes**

| | |
|---|---|
| **Tetracycline** | **تيترا سکلين** |
| **Chloramphenicols** | **کلورم فينکول** |
| **Semi Synthetic Pencilline** | **سمي سنتيتيک فينسلين** |
| **Cephalosporin** | **سفالورسفورين** |
| **Sulphonamide Group** | **سفانمايده ګروپ** |
| **Macrolid Antibiotics** | **مکروليد انتی بيوټيک** |
| **Quinolone** | **قوانين** |
| **Natural Penicillin** | **طبيعی فنسلين** |
| **Amino Glycosides** | **امينو ګليکوزايد** |
| **Anti Tuberculosis Grugs** | **د تبرکولو ضد درمل** |
| **Other Anti Biotics Grugs** | **نور نتی بيوټيک درمل** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امازون_ځنګل | د نړۍ یو تر ټولو لوی ځنګل!

د امازون ځنګل د نړۍ په نهو (۹) هیوادونو کې غځېدلی دي چي تر ټولو ډېره برخه یې په برازیل هیواد کې راځي. د امازون ځنګل سیمه تر ۵۵ لکه کیلو متره مربع پراخوالی لري په داسي حال کې چي د افغانستان ټوله سیمه ۶.۵۲ زره کیلو متره ده، امازون یوه یوناني کلیمه ده چي مانا یې جنګیالۍ ښځه ده. د ځمکې ۲۰ سلنه اکسیجن یوازې د امازون ځنګل ونې او بوټې تولیدوي، د نړۍ ۴۰ فیصده ځاروي، مرغان او حشرات د امازون په ځنګل کې موندل کېږي. دلته له ۴۰۰ څخه ډېر ځنګلي قبائل مېشت دي چي نفوس یې نږدې ۴۵ لکه زیات او کم اټکل شوی. دغه خلک د یوویشتمې پېړۍ په دې پرمختللې دور کې هم په هماغه ځنګلي سټایلونو کې ژوند تېروي. د دې ځنګل ځیني سیمې دومره ګڼې دي چي لمر ورته نشي رسېدلی او په ورځ کې هم د شپې غوندې تیاره شتون لري. امازون ځنګل کې داسې حشرې هم شتون لري چي په یو ټک چیچلو سره یو انسان په څو ثانیو کې هغې دونیا ته رسولی شي. د امازون سیند د اوبو له حسابه په نړۍ کې تر ټولو لوی سیند دی، چي۷ اووه زره کیلومتره اوږدوالی لري. د امازون په سیند کې تر ۳۰ زره ډوله کبان ژوند کوي، د امازون په ځنګلونو کې شاوخوا ۶۰ سلنه حیوانات اوس هم بې نومه پاتې دي. دلته دومره لوی او قوي غښي دي چي مرغۍ او ورته الوتونکي هم نیسي او وژني. دلته شاوخوا ۳۰ زره ډوله میوې موندل کېږي. بیولوژیستانو تر دې دمه یوازې د دې ځنګل ۱۰ فیصده برخو ته رسیدلي دي. کۀ تاسې د امازون په ځنګلونو کې ښکته شئ او سخت باران شروع شي نو د لوړو او ګڼو ونو له امله تقریباً ۱۲ دقیقو پورې تر تاسې د باران اوبه نشي در رسېدلی.

### *~لاندي کړني مو دویني فشار کموي او منظموي.~*

*1 دصحي غذايي رژیم تعقیبول.*

*2منظم ورزش کول.*

*3 نصوار پرېښودل.*

*4دتیزاب لرونکو مشروباتو څخه ځان ساتل.*

### د_قران_کریم_په_اړه_په_زړه_پوري_معلومات

۱-قران کریم "۳۰" سپارې لري.

۲-قران کریم "۱٤" سجدې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳-قران کريم " ۷ " منزله لري.

٤-قران کريم "۱۱٤"سورتونه لري.

٥-قران کريم "٥٤٠"رکوع لري.

٦-قران کريم "٦٦٦٦"اياتونه لري.

۷-قران کريم "۳۲۳۷٦۰"توري لري.

۸-قران کريم "٥۳۲٤۳" زبرونه لري.

۹-قران کريم "۳۹٥۸۲"زېرونه لري.

۱۰-قران کريم "۸۸۰٤"پېښ لري.

۱۱-قران کريم "۱۷۷۱"مد لري.

۱۲-قران کريم "۱۲٤۳"شد لري.

۱۳-قران کريم "۱۰٥٦۸۱" ټکي لري.

۱٤-قران کريم "۷۷٤۳۹~۷۸٦۳٥" کلمې لري.

۱٥-قران کريم "۳۰۱٥" منفصلة مد لري.

۱٦-قران کريم "۲۱۰۱"متصله مد لري.

۱۷-قران کريم "۸٦"سورتونه مکي لري.

۱۸-قران کريم "۲۸"سورتونه مدني لري.

د_قران_کريم_د_تورو_څرګندونه

۱- په قران کريم کې"الف"توری(٤۸۸۷۲) ځلي راغلی.

۲-په قرآن کريم کې "ب" توری (۱۱٤۲۸) ځلي راغلی.

۳-په قرآن کريم کې "ت" توری (۱۱۹۹) ځلي راغلی.

٤-په قرآن کريم کې "ث" توری (۱۲۷٦) ځلي راغلی.

٥-په قرآن کريم کې "ج" توری (۳۲۷۳) ځلي راغلی.

٦-په قرآن کريم کې "ح" توری (۹۷۳) ځلي راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷-په قرآن کريم کې "خ" توری (۲٤۱٦) ځلي راغلی.

۸-په قرآن کريم کې "د" توری (٥٦۰۲) ځلي راغلی.

۹-په قرآن کريم کې "ذ" توری (٤٦۷۷) ځلي راغلی.

۱۰-په قرآن کريم کې "ر" توری (۱۱۷۹۳) ځلي راغلی.

۱۲-په قرآن کريم کې "ز" توری (۱٥۹۰) ځلي راغلی.

۱۳-په قرآن کريم کې "س" توری (٥۹۹۱) ځلي راغلی.

۱٤-په قرآن کريم کې "ش" توری (۲۱۱٥) ځلي راغلی.

۱٥-په قرآن کريم کې "ص"توری (۲۰۱۲) ځلي راغلی.

۱٦-په قرآن کريم کې "ض"توری (۱۳۰۷) ځلي راغلی.

۱۷-په قرآن کريم کې "ط" توری (۱۲۷۷) ځلي راغلی.

۱۸-په قرآن کريم کې "ظ" توری (۸٤٤) ځلي راغلی.

۱۹-په قرآن کريم کې "ع" توری (۹۲۲۰) ځلي راغلی.

۲۰-په قرآن کريم کې "غ" توری (۲۲۰۸) ځلي راغلی.

۲۱-په قرآن کريم کې "ف" توری (۸٤۹۹) ځلي راغلی.

۲۲-په قرآن کريم کې "ق" توری (٦۸۱۳) ځلي راغلی.

۲۳-په قرآن کريم کې "ك" توری (٥٥۰۰) ځلي راغلی.

۲٤-په قرآن کريم کې "ل" توری (۳٤۳۲) ځلي راغلی.

۲٥-په قرآن کريم کې "م" توری (۳٦٥۳٥) ځلي راغلی.

۲٦-په قرآن کريم کې "ن" توری (٤۰۱۹۰) ځلي راغلی.

۲٦-په قرآن کريم کې "و" توری (۲٥٥۳٦) ځلي راغلی.

۲۷-په قرآن کريم کې "هـ"توری (۱۹۰۷۰) ځلي راغلی.

۲۸-په قرآن کريم کې "لا" توری (۳۷۲۰) ځلي راغلی.

۲۹-په قرآن کريم کې "ي"توری (٤٥۹۱۹) ځلي راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قران کريم په "٦١١م"نازل لېدل پيل اوپه"٦٣٤م"کې بشپړ وی دی همدارنگه قران کريم١٣ کاله په مکه او ١٠کاله په مدينه منوره کې نازل شوی دی... ❤

**مهمې او گټورې سپاربښتنې:**

کله چې بيخي ډېر عصباني شي نو لاسونه دي جيب کې داخل کړۀ. ياد لرۀ چې ستا او د ميرمنې ترمنځ ښه ترينه اړيکه هغه وخت رامنځته کيدلای شي چې تاسو د اړتيا څخه زيات عشق او مينه ولرى. هيڅ توپير نه لري چې تاسو د عمر په کومه مرحله کې ياست د سلام کولو په وخت کې دي مور په غېږ کې ونيسئ. که چا ټليفون کې مصروفه وساتلي يعني بل چا ته ځواب ورکړي نو ته دي ټليفون قطع کړۀ. هيڅ وخت هغه ټوک چې سخت درد لري د (زه پوهېږم چې پر تا څه تيرېږي) کلمه مه وايۀ ځکه ته اصلاً د هغه په ستونزه نه پوهېږي. گوره په ياد لرۀ ځيني وختونه هغه څيز چې غواړي لاسته راوړي خو ونشي کړای نو دا بيا بخت او طالع ده. هيڅکله يو نارينه ته مه وايۀ چې ويښتيان دي پر څه حال دي ځکه هغه پوهېږي نو شايد کومه ستونزه ولري خو ستا په ويلو خفه کېږي. د زړه له تله عشق وکړۀ شايد يو څه ضربه ووينى اما د واقعي ژوند غوره لار همدا ده د هغې موضوع په اړه چې سم پوه شوى نه يې قضاوت مه کوۀ. کله چې ستا څخه يو ټوک يو څه پوښتي او ته نه غواړي هغه ته ځواب ورکړي نو يو وړه غوندي مسکا وکړۀ او ورته ووايۀ "د څه لپاره غواړي د دي په اړه پوه شي؟" هيڅکله دي بريا د مناسب وخت او ځای څخه پرته مه بيانوۀ. هيڅکله د فلم او کتاب پای چاته مه بيانوۀ. کله چې خسته او خفه يې نو سمدستي لاسونه او مخ پريمينځۀ کالي او جرابي دي بدلي کړۀ نو سمدستي به ووينې چې څومره انرژي دي اخيستي ده. هيڅکله د خبرو کولو تر وخت مخکې درنه غذا مه خورۀ. خوشحالي او راحتي يو له بله سره مه گډوۀ. هيڅکله په زوړ بازار کې برقي څيزونه مه رانيسئ. داسي يو بوختيا وټاکئ چې روح دي هم د بانکي حساب په څير ډېر کړي.کوښښ وکړئ چې د هغه وگړو له جملې څخه ونه اوسئ چې وايې"تيارى،موخه، اور" هر کله چې دي وخت پيداکړ نو د زامنو لاس دي په لاس کې ونيسۀ ژر به داسي وخت راشي چې هغوى به تاسو ته شايد ددي کار اجازه در نه کړي. کله چې غواړي سايوان رانيسي نو سپين رنگ رانيسۀ ځکه په غمگينو ورځو کې تاته خوشحالي در کوي. د کار په ساحه کې هيڅکله د کورنۍ خبرې مه کوۀ. په حمام کې په کوچني آواز سره سندرې ولولئ. کله چې په مسافرۍ کې د موخې ځای ته رسېږى نو کوښښ وکړئ داخل په ډگر کې ځان لپاره هوټل وټاکئ.د زېږند په ورځ دي درختي وکره. داسي ژوند وکړۀ هر کله چې دي زامن ښه والى، مهرباني او نرمښت ووينې نو ستا په سوچ کې شي. کله چې زامن تحريک يا تنبيه کړي نو وروسته يې غېږ کې ونيسۀ. ساعتونو مو ٥ دقيقي مخکې جوړ کړئ. يوازي هغه کتابونه امانت ورکړئ چې په نه لرلو سره يې نه خفه کېږى. کله چې له ماشومانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره لوبې کوی نو پربېږدئ چې هغوی بریالي شي. د هغه چا څخه ووېرېږۀ چې د ورکړې څيز نه لري. په ياد لرۀ چې خوښې د هغه چا په نصيب کېږي چې د لاسته راوړلو لپاره يې هلې ځلې کوي

## دمؤمن معناء

بجلی ګهر مولوی صیب د مؤمن څه ښه معناء کړې ده.د مؤمن معناء ده امن ورکولو والا .د نن سبا مؤمنانو دا معناء هيره کړې ده بلکې د خطر ورکولو معناء پکښې نغښتي ده .د پخوا زماني مؤمنان داسي اشخاص وو چې کله به کافر چېرته په سفر تللو نو خپلي پيغلي لورګاني به يې مسلمانانو ته پرېښودلي چې دوی په امن وي ځکه هغوی کښې د امن ورکولو معناء نغښتي وه خو نن سبا دا معناء په ډيرو کمو اشخاصو کښې پيداکېږي الله دې موږ حقيقي مؤمنان جوړ کړي.

## د موبايل زيان

ميلاټونين يوه_کېمياوي ماده ده چې دانسانانو په بدن کې يې مقدار دشپې خواته لوړيږي اود خوب باعث ګرځي. ټيلفون،کمپيوټر او ټابلېټ رڼا د دې کېمياوي مادې کچه را ټېټوي او خوب تښتوي. نولدې امله دشپې لخوا لږ تر لږه ۳۰ دقيقې له خوب وړاندې بايد ټليفون، کمپيوټر، آيپډ يا ټابلېټ ونه کارول شي.

## کمپيوټر ساينس يعنې څه؟

ژباړه : سهيل احمد البدری

کمپيوټر ساينس يو له هغې موډرن او زياتې استعماليدونکې رشتې څخه عبارت ده چې په موډرن تکنالوژي کې ډير مهم رول لري. دغه رشته تقريبا په ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې څلور کاله (اته سمستره) تدريس کيږي.

له نيکه مرغه چې اوس مهال دغه رشته د افغانستان په ډېرو پوهنتونونو کې موجوده ده. چې د کمپيوټر ساينس پوهنځی دلته معمولاً درې ډيپارتمنتونه لري چې عبارت دي له : نيټورک، ډيټابيس او سافټوير انجينيری. د کمپيوټر ساينس پوهنځي هغه مضامين چې په اتو سمسترونو کې تدريس کيږي د بيلګې په ډول راخلو.

د اول او دوهم سمستر مضامين :

**computer fundamentals**

**English 1,2**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**mathematics**

**physics**

**History**

**programing 1**

د دریم سمستر مضامین :

**Detabase concepts 1**

**programming 2**

**probablity**

**computer Networks**

**English3**

**Communication skills**

د څلورم سمستر مضامین :

**Operating system**

**statistics**

**computer Architecture**

**Computer Network2**

**English4**

**Database concepts 2**

د پنځم سمستر مضامین :

یادونه په پنځم سمستر کې عمومي ټولګی په دیپارتمنتونو ویشل کیږي موږ دلته د بیلګې په توګه د **Network** مضامین راخلو.

**Computer Networks 3**

**Software engineering**

**Network operating systems**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Data structure and algorithms**

د شپږم سمستر مضامین :

**Computer Networks 4**

**Network programming**

**Database Administration**

**Web engineering**

**ICT management**

د اووم سمستر مضامین :

**Advanced Network 1**

**Wireless and mobile Networks**

**Network security 1**

**Distributed web applications**

**Research Methodology and projects**

د اتم سمستر مضامین :

**Advanced Network2**

**IT Resource management**

**Network security 2**

**Project management**

دندې :

هغه محصلین چې د کمپیوټر ساینس پوهنځي څخه فارغ کیږي؛ کولای شي مختلفې دندې پر مخ یوسي او کولای شي مختلف کارونه وکړي. د بیلګې په توګه دلته یو څو دانې ذکر کوو.

د کار کولو توانایي په لویو صنعتي، دولتي او خدماتي شرکتونو کې.

د ډیټابیس جوړول

د انټرنیټي پروګرامونو جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وبسایت جوړول

د کنترول او نظارت د برنامو جوړول

د دولت د الکترونیکي سیستم تولید

د اطلاعاتي بانکونو جوړول

د شرکتونو، سازمانونو مدیریت او د حسابدارۍ ناظر.

**IT manager and IT assistant**

**DBA : database administrator**

**Web designer**

**web developer**

**data analyst**

**Software developer**

**Data operator**

دا او دې ته ورته ډېرې دندې پر مخ وړی شي.

یوه مشوره د هغو زده کوونکو له پاره چې غواړي راتلونکي کې کمپیوټر ساینس د خپل مسلک په حیث غوره کړي. کمپیوټر ساینس معنی یوازې **Microsoft Office** نه ده. شاید تاسو په **ms word, ms excel, ms PowerPoint** کې کار وکولای شئ او تاسو فکر کوئ چې دا خو ډېر ساده کار ده. نا اصلاً نا که چېرې تاسو ددې ډول پروګرام جوړولو ته متې بډ وهئ نو شاید له تاسو کلونه کلونه وخت ونیسي. د مثال په توګه که زه له تاسو پوښتنه وکړم چې څوک غواړي پیزا یا ډنډکی وخوري؟ شاید ستاسو ټولو ځواب هو وي معنی دا کار ډېر ساده ده، خو که زه ووایم څوک غواړي پیزا یا ډنډکی پوخ کړي؟ نو په دغه وخت کې شاید ستاسو له ډلې د زیاترو او یا ټولو ځواب نا وي. نو همدا مثال د کمپیوټر هم ده په کمپیوټر کې د فیسبوک، ګوګل کروم، مایکروسافت آفیس، مختلفو ګیمونو او د ایډیټینګ پروګرامونو کاروونه اسانه خو جوړول یې ډېر سخت دي. نو که تاسو چیرته زیاته حوصله، د کوډینګ سره علاقه، د مشکلاتو حل لاره لټول، ریاضي، قوي اراده او داسې نور مهارتونه لرئ نو بیا ;

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Welcome to computer science**

د کمپیوټر ساینس مهمه برخه **programming** ده; چې ددې له لپاره تاسو اړ یاست چې د کمپیوټر بعضی ژبې لکه: **Java, Python, c, c++, html, SQL** او داسې نورې ژبې زده کړئ.نو د **coding** سره علاقه به تاسو تر منزله رسوي.

د نړۍ بهترین پوهنتونونه د کمپیوټر ساینس له پاره.

**_Carnegie Mellon University.**

**_Massachusetts Institute of Technology.**

**_Stanford University.**

**_University of Oxford**

**_University of Cambridge**

**_University of California--Berkeley.**

**_University of Illinois--Urbana-Champaign.**

**_Cornell University.**

**_University of Washington.**

**_Georgia Institute of Technology.**

ماخذونه

**_linkedin.Com**

**_Career360.com**

**_USnews.com**

**_Collegedunia.com**

**_Indeed.com**

**_Kankor group in telegram.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په قرانکریم کې د سترګې په اړه پټ راز ۱۴۰۰ کاله وروسته کشف شو؛**

الله تعالی دقـــرانکریم په دوو آیتونو کې فرمایي:

فَأَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ [سُوۡرَةُ الواقِعَة : 8]

وَأَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ مَآ أَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ [سُوۡرَةُ الواقِعَة : 9]

ژباړه: د ښي لاس خاوندان، د ښي خاونده څومره ښه دي،د کیڼ لاس خاوندان، د کیڼ لاس خاوندان څومره بد او سپک دي.

دلته الله تعالی د آخرت د ورځې یادوونه کړې ده، چې په آخرت کې به نیک عمله انسانانو ته په ښي لاس او بد عمله انسانانو ته به خپلې "عملنامې" په چپ لاس ورکول کیږي.خو یو بل څه ډېر حیرانوونکي دي؛ هغه دا چې د انسان سترګه یو ډېر عجیبه جوړښت لري او د انسان په بدن کې هم تر دماغ وروروسته تر ټولو پیچلی جوړښت لري. نو ځکه یې د څېړونکو ډېر زیات پام ځان ته ور اړولی او پوهانو پکــښې ډېرې سختې او جالبې څېړنې کړې دي.د ننني پرمختللي ساینس ( **Anthropology** علم البشریات) ځانګې څېړونکي وایي چې دا طبعي خبره ده چې د انسان له سترګو اوښکې د غم او یا خوشحالۍ پر وخت بهیږي، خو دا بهېـدل بیا توپیر لري، دوی له زیاتو څېړنو وروروسته معلومه کړې چې دا اوښکې انسان په دماغ کې (هایپو تهیلمس) برخې څخه د ( ایمبریکل سیسټم **Ambrical Sistem**) په اساس له سترګو څخه بهیږي.خو دا د اوښکو بهېدنه بیا ډېره جالبه ده، کله چې تاسو خوشحاله یاست او له سترګو مو اوښکې روانیږي نو لومړۍ اوښکه مو د ښي (راسته) طرف څخه روانېدل پیلوي، او کله چې تاسو د غم دلاسه ژاړۍ، نو ستاسو لومړۍ اوښکه د سترګې له (چپ) طرف څخه راونېدل پیلوي.دا یو ستر حقیقت دی چې د آخرت په ورځ به ښي (راسته) لاسي (نېک عمله) انسانان خوشحاله او چپ لاسي (بد عمله) انسانان به خپه وي. په دې اساس په دې دوو آیتونو کې د جنتیانو او دوزخیانو د غم او خوشحالۍ یادوونه پکښې شوې، او یو ډېر #جالب او حقیقي راز پکښې نغښتی دی. هغه راز چې ۱۴۰۰ کاله وروروسته ساینس‌پوهانو د سختو څېړونو او پرمختللي ټکنالوجي وروسته کشف کړ.

سَنُرِيهِمْ ءَايٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ

ژباړه: ډېر ژر به موږ دوی ته خپلې نښانې په افاقو (کائناتو) کښې هم وښیو او د دوی پخپلو نفسونو(ددوی د بدن په جوړښت) کښې هم؛ تر دې پورې چې دوی ته دا خبره څرګنده شی چې دغه قُرآن په رښتیا سره پر حق دی. ایا دا خبره کافي نه ده چې ستا رب پر هر څه شاهد دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په درې دقيقو کې د غاښنو ښکلا تر ټول اسانه لار

زمونږ غاښونه اکثره وخت د چاي , کافي او سګرټ څکولو له کبله ژیړ رنګ خپلوي..او کله چې له چا سره مخ شو نو له شرمه خبري نشو کولی..د غاښونو بيرته سپينول ډير لګښت لري..خو نن مونږ درته داسي نسخه ښايو چي په ډير کم لګښت او ډير کم وخت کي خپل غاښونه سپين کړی..د چايو په پياله کي نيمه قاشوغه سوډا (پولی) واچوئ..او ليمو ورباندي ونښتيزئ..ښه يي سره ګډ (مخلوط) کړئ.له درې دقيقو وروسته يې د برس , مسواک يا د ګوتې په واسطه په خپلو غاښونو وموخئ..دا کار د ورځې 2 ځله تکرار کړی..انشاءالله غاښونو به مو تک سپين شي.

## انسان له جنګه کرکه لري

په دوهم نړيوال جنګ کی د برتانيی او جرمنی جنګ په ناروی هيواد کی وموښتی چی دی جنګ کی د براتانيی يو پيلوپ او د جرمني يو پيلوټ يو د بل طياری وويشتلی چی داوړه طياری لاندی ځکمی ته وليويدلی بيا دوی که څه هم دښمنان وه د يو او بل په کمک سره د جنګ له ساحی څخه ووتل چی دوی بيا وروسته له نړيوال جنګه سره وليدل او ملګری سول.

انسان طبيعتاً جنګ نه خوښوی بلکی صميمانه فضا او خوشحالی او سوکالی غواړی!

## عجيبه او درد ناکه قيصه

د مؤذن غږ مې واورېد نو د يوې لحظې لپاره مې موسيقي بنده کړه. خو د اذان د اورېدلو په وخت کې مې داسې احساس وکړ چې د مؤذن غږ عجيب او غريب دی، د اذان د خلاصېدو په تمه وم. کله چې اذان خلاص شو نوی سندره مې چالانه کړه. خو له ما سره بياه هم د اذان اورېدو پر وخت د هغه عجيب او غريب اواز اورېدلو وسوسه موجوده وه.زه په همدې حالت کې وم چې څه د پاسه له شلو دقيقو وروسته مې يوه چيغه واورېده چې ډېر لوړ غږ سره وه. زه هم په منډه کوڅې ته ووتلم. ومې ليدل چې ټول خلک له خپلو کورونو څخه د باندې راوتلي دي او په ډارېدلي انداز سره د آسمان لورې ته ګوري. ومې غوښتل چې لدې ټولې څخه وپوښتم چې هلته څه پېښ شوي دي؟خو هيچا هم ځواب رانکړ!تر دې پورې چې خپل پلار ته ور وګرځېدلم. پلار مې راته وويل: لمر د لويديځ له لورې را پورته شوی، ای لورې د توبې دروازې وتړل شوې.داسې مې احساس کړ لکه ټول وجود مې چې مړ شو ددې خبرې له اورېدلو وروسته ودرېدلم. ومې کتل چې هيچا بل چا ته پام نه کاوه. نه مور، نه پلار، نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور، نه خور، نه خاوند، نه ښځه، او نه زوی او نه لور..او په دې وخت کې مې په غوږ کې یو غږ انګازه وکړه د الله ﷻ دا قول چې فرمایي:

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ(٣۴) وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ(٣۵) وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ(٣۶) لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ(٣٧)

[سورة عبس]

ژباړه: هغه ورځ چې انسان له خپل وروره تښتي، خپلې مور، خپل پلار، خپلې مېرمنې او له خپلو اولادونو تښتي.

له هغو ځخه به پر هر یوه په دې ورځ داسې راشي چې د ځان پرته به یې بل هیڅا ته پام نه وي.لاړم تر څو له خپلې مور سره خبرې وکړم (هغه چې زه ډېره پرې ګرانه وم) خو له بده مرغه هغه هم ماته ځواب رانکړ.دا هغه څه وو چې ما په خوب کې ولیدل.خو دا هر څه یوه ورځ په حقیقي او واقعي شکل سره راتلونکي دي.پس ای هر هغه انسان کوم چې دې ورځې د د لیدو او راتلو په تمه یې، ایا ددې ورځې لپاره دي څه تیاری نیولی دی؟یو صالح کس د یو سړي له ځنګه تېرېدو چې هغه سړي غوښې کبابولې.دې صالح کس وژړل.کباب پخوونکي ورته وویل : ولې ژاړې؟ ایا غوښې غواړې؟صالح کس ورته وویل: نه! زه د ادم علیه السلام د بچي پر حال ژاړم.ځکه حیوان خو په داسي حال اور ته اچول (کباب) کېږي چې مړ وي خو انسان به په داسي حال کي اورته واچول شي چي ژوندی وي.الله ج دې موږ په نیکه لاره روان کړي.

آمین

**«««جالب سوالونه اودهغوی جوابونه»»»**

1-هغه کوم حیوان دی چه نسل ئي نه هګی اچوي اونه لنګیږي خونسل ئي تراوسه پاته دی؟؟؟

#جواب،،،، هغه حیوان غاتر یا قچردی،، چه دخره اوآس مشترک نسل دی خوخپله هیڅ تناسل نکوي،

2-هغه کوم مرغه دی چه هګی نه اچوي او،لنګیږي اودانسانانو دښځینه په څیرحیض هم ورځي؟؟

#جواب،،،،،،،هغه شب پرک دی ,کوم چه دشپې الوزي،،

3-په حیواناتو کي دکوم حیوان عمرډېرزیات دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



#جواب....هغه یوه سمساره،ده چه تر700کاله اوبل کېشف دی چه ددې نیمایي یعني تر 350کاله پوري ژوند کولای سي،

4- هغه کوم هیواددی چي دمرغانو شمېر تر ټولو پکي زیات دی؟؟

#جواب هندوستان هیواد دي.

5-هغه کوم حیوان چه پراتو 8پښوباندي تګ کوي ،څلور په یوه ګام اوڅلور  په بل ګام کي اېږدي،؟؟؟

#جواب...هغه جولاګۍ اوغښې ده.

6-په ریاضیاتوکي  کوم حیوان  زیات مهارت لري،!؟

#جواب دغه یوقسم حیوان دی چه سنجاب ورته وایي چه پوست ئي هم خلګ دپوستین اوخولۍ لپاره کاروي..

7-هغه کوم مرغه دی چه دنورومرغانو په ځالی کي هګۍ اچوي؟؟؟

جواب د  وقواق، په نامه یوخړ غرنۍ مرغه دی هغه دغسي تیار خور دي

8-چرګه په خپل ژوند کي دڅومره هګۍ اچولو وړتیالري؟؟

#جواب د225څخه تر230پوري هګۍ اچولو ظرفیت لري.

9-مارپه څومره وخت کي خپل پوست اچوي؟؟

#جواب په یوکال کي درې ځله،

10-هغه کوم حیوان دی چه دخوراک په وخت کي لوړه زامه ښوروي؟؟

#جواب..تمساح .واګو ،یامګرمچ  چه ورته وایي.

11--هغه کوم حیوانات دي چه  دشم اوبویدلو حس نلري؟؟

#جواب..مار، مچ ،،اوکیشف..

12-هغه کوم حیوان دی چه کله مریض سي نوځان خپله وژني؟؟

#جواب باز یاڅرخک چه ورته وائي،

13--انسان په یوه دقیقه کې څوواره ساه باسي؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



#جواب له 12څخه تر16ځله پوري

14-هغه کوم حیوان دی چه سترګي پټي کړي بیاهم لېدل کولای

سي؟؟؟

#جواب شب پرک دی ,په وزرونو کي ئي داسي ماده سته چه دماغ ته دسترګو په شان خبرورکوي

15-هغه کوم حیوان دی چه دسترګو، دید ئي ترټولو زیات دی؟؟

#جواب هغه باز  دی چه تر70میله ئي سترګي لید کولای سي،

16-په حیواناتو کي دکوم حیوان دغاښونو شمیر زیات دی؟؟

#جواب دمار دغاښونو شمیر تر200رسیږي،اوپه نورو حیواناتو کي آس د40غاښو په درلودلو.ترټولو زیات  غاښونو لري

17-هغه کوم حیوان دی چه هیڅ اوبه نه چیښي؟؟

#جواب هغه حیوان سمساره ده ،چه هیڅ اوبه نه چیښي، اوپه هوا سره د اوبو ضرورت پوره کوي،،اوپه څلویښت ورځي کي صرف یوڅاڅکی بولي کوي،

**سپي ولي وفادار دي**

کله چی د کور ټول کسان بیده وه نو یو زهرجن مار وغوښتل چی کورته داخل سی مګر دی سپی د مار سره جنګ شروع کړ تر څو مار کور ته دننه پری نږدی مار دا سپی څو ځلی پر مخ ووهی مګر بیا هم ده د خپل مشر د ساتلو لپاره د مار سره جنګ ته دوام ورکړ چی په پایله کی مار مړ سو او کله چی سهار د کور غړو وکتل مړ سوی مار او خپل سپی یی بی هوښه پیدا کړل چی وروسته له څه وخته سپی هم مړ سو.نو ځکه خو سپی د نړی وفاداره حیوان دی.

**د بهلول دانا یو عجیبه قیصه**

د بهلول دانا له عجایبو او نا اشنا کیسو یوه دا ده، چې دی په مقبره کې ناست و، هارون الرشید ورباندې پیښ شو.هارون ورته وویل ای بهلوله ای لیونیه کله به ته هوښیار شې بهلول منډه کړه، یوې دنګې ونې ته پورته شو، بیا یې په لوړ غږ هارون ته غږ کړ ای هارونه ای لیونیه ته به کله هوښیار شې هارون راغی له ونې لاندې ودریده په داسی حال کی چې بهلول د ونې په ښاخ ناست دی. هارون ورته وویل: زه لیونی یم که ته؟ چې په مقبرو کې ګرځې بهلول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل: بلکې زه هوښيار يم.هارون وويل: څنګه بهلول وويل: زه پوهيږم چې ستا قصر له منځه تلونکی دی او دا قبر به باقي وي ما قبر مخکې جوړ کړی ستا له ماڼۍ څخه.او تا ماڼۍ جوړه کړې ده او قبر د وران دی.ته نه خوښوې چې له ابادۍ نه خرابۍ ته لاړ شې سره له دينه چې ته پوهيږې چې مرګ حتمي دی او دې قبر ته به ورځې بهلول ور غبرګه کړه او وې ويل ای هارونه اوس وو‌ايه څوک ليونی دی د هارون زړه په لړزه شو د بهلول خبرو وژړوه تر دې چې ږيره يې لمده شوه.بيا يی وويل ای بهلوله قسم په الله ته ريښتونی يې.بيا هارون بهلول ته وويل نور نصيحت راته وکړه!بهلول ورته وويل: د الله تعالی کتاب قرآن درته کافي دی په همدې عمل کوه.بيا هارون وويل: څه ضرورت لرې چې درته پوره يی کړم! بهلول وويل: هو درې ضرورتونه لرم که پوره د کړل مهرباني به د وي.هارون وويل څه دي؟ ووايه!بهلول وويل: عمر مې زيات کړه!هارون وويل: دا مې له وس نه ده پوره.بهلول وويل: د مرګ له پرښتې (عزرائيل) مې وژغوره!هارون وويل: دا زما په قدرت کې نه دي.بهلول وويل: جنت ته مې داخل کړه له جهنم مې وساته هارون وويل: دا نشم کولی! بهلول وويل: پوه شه چې ته ملوک او غلام يې بادشاه نه يې له تايی نه غواړم.

**جالبې. خبری**

۱ - خوست کې يو پوليس خپل ټوپک بوجۍ کې ګرځوي □

۲ - دوستم د پکتيا پوهنتون د ادبياتو پوهنځۍ څخه ليدنه وکړه، او محصلينو ته يې ووېل : شاباس سم درس ووايئ، چې طب پوهنځي ته بريالي شئ □□

۳ - کوچيان په دين سر ورکوي، خو زده کوي يې نه □□

۴ - له احمقانو سره بحث کول داسې دي لکه د سړي چې ګرمه تبه وي □□

۵ - د اوبو څخه مېښه، او د سيمسارۍ دوکان څخه ښځه، هيڅکله نه وځي □□

۶ - عجيب خلک يوو، د سر ويښتان په لکونو لګوو او د ږيرې ويښتان مفت لرې کوو □□□□□

۷ - غريب سړی په دوو وختونو کې چرګ خوري، کله چې دی پخپله مريض شي ـ او کله يې چې چرګ مريض شي □□

۸ - ريل ګاډی هيڅکله نه پنچرېږي □□

۹ - له يو هندو څخه پښتون پوښتنه وکړه، چې **(I m going)** څه مانا ؟

هندو ورته وويل: زه ځم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون وويل: پلار دي هم ولاکه رانه لاړ شي، تر څو ځواب رانکړې □□

۱۰ دافغانستان ټول خلک سیاسي شنونکي دي

۱۱ - په کوچني عمر کې د هلکانو د واده تر ټولو لوی تاوان دا دی، چې له خپلو بچو ټول پاپړ او بسکېټ په خپله خوري □□

۱۲ - په افغانستان کې میندې خپل بچیان د ورځې څلور ځلې شماري □□

۱۵ ـ که خیاط د هر څومره ملګري او یا خپلوان شي پرتوګ په شاګرد ګنډي□□

۱۳ - یو کس لیکلي و، ښځه د کور رڼا ده، بل کس په کمنټ کې ورته لیکلي و، سړی د کور جنراتور دی □□

۱۴- ډیر خلک لور نه غواړي، خو ښځه غواړي □□

۱۵- یو څلوېښت کالن خیاط، یو سړي ته کالي ګنډلي و، دواړه یې پرتوګونه ګنډلي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نه ختمیدونکي ګناه

نن سبا ځوانان او خویندې ډېر په غلطه روان دي باور وکړئ الله تعالی د زړې رزې حساب کوي! لطفاً لیکنه مکمل ولولئ ځوانان او خویندې مو ډېرې داسې کارونه کوي چې دوی ته یې دوه توته فایده هم نه رسي اما بیا هم هغه کارونه ترسره کوي او دغه واړه کارونه چې دوی ته ډېر عادي واړه او ساعت تیري ښکاري اما دا واړه کارونه او عملونه ندي باور وکړئ ځینو حالاتو کې ان د ایمان د زاوال لامل هم ګرځېدلی شي ډېر احطیاط پاکار دی! زه یې درته یادوونه کووم هغه عملونه او کارونه چې تاسې ته عادي او واړه ښکاري په حقیقت کې عادي او واړه نه بلکې د ستر مسؤلیت لروونکي دي او په لاندې ډول دي زه یې په ډېره ساده ژبه درته بیانوم هیله ده ترپایه یې ولولئ. په موبایل کې د زاپیا څخه غلطه استفاده نن سبا ډېره عادي او وړه خبره ښکاري ځوانان او خویندې ډېر په ډاډه زړه سره هر دول اشیا لکه سندرې فلمونه سریالونه، ډرامې او نور شیان یو بل ته انتقالوي چې دا یو دېر ناسم ستر او غلط عمل ده ځکه هغه فایل چې ته بل ورور ته د زاپیا له طریقه انتقالوې خپله خو یې په کتلو ګنهګار وې او بل ته دې هم د ګناه کولو زمینه مساعده کړه او تردې لا ډېره خطرناکه خبره دا چې دا یوه نه ختمېدونکې ګناه ده تر څو چې دنیا وي ستا دا ګناه به هم بچې کوي! یو به یې بل ته، بل به یې بل ته لیږي او بل به یې بل ته او همداسې پسې ځه ..... فېسبوک سټوري مسنجر، واټساپ ګروپونو او ټیکټاک کې نا سمې ویډیو ګانې خپرول، چې زه د هغې په کیفیت باندې بحث نکوم تاسو ټول ښه پوهېږئ چې څه رواه او څه نارواه دي، دا نن سبا ډېر عادي کار خلکو ته ښکاري خو په حقیقت کې دا هم د اسلام او د پښتو په اساس یو ناوړه کار دی او نه ختمېدونکې ګناه ده.باور وکړئ په سټوري کې چې تاسې د ټکټاک کومه ویډیو ورکوئ هغه ډېر خلک ګوري امکان دې ولري هغه ویډیو د چا ډېره خوښه شي او ترې اغیزمن شي بلاخره مجبور شي چې ددې چینل ترلاسه کولو او نورو ویډیو ګانو کتلو لپاره هغه ټکټاک فعال کړي، دا چې هغه کس څومره نورې ویډیوګانې ګوري ډانلوډ کوي یې او کومو، کومو ځایونو کې یې نشروي او څه څه نور کوي ددې ټول مسؤل هم ته یې، هغه هم ګنهګار ده خو ته د ګناه کولو باعث شوې. په فېسبوک کې د پروفایل او پوسټونو لپاره غلط (غیر شرعي، یا د ښځو) انځورونه خپرول دا هم نن سبا ډېره عادي خبره خویندو او ورونو ته ښکاري، لطفاً لدې ناوړه کار څخه لاس واخلئ یوه خاصه یادوونه او غوښتنه هغه خویندو ته چې فېسبوک کاروي د پروفایل او پوسټونو لپاره د ښځو انځورونه انتخابوي ښه به دا وي چې وي چې د ګلالیو ماشومانو انځورونه انتخاب کړي.البته ډېره خطرناکه خبره پدې مورد کې دا ده چې چاته دا خبره وکړې درته وایي پروا نکوي ددې خبرې مراد، ددې عمل جائز ګڼل دي کوم چې سړی له ایمانه خلاصوي په ښارونو کې د رینګټونز ( موبایلونو او میموري) ډکوونکي دوی نو بیخي د خدای ج په قهر ککړ دي، زما ورڅخه هیله ده چې لدې کار څخه لاس واخلي او یو بل حلال کاروبار شروع کړي دوی دې دا نه وایي چې کارونه نشته، میلونونه انسانان دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېږي دا ټول څه کوي او کوم کوم کارونه کوي، ولې دوی له نورو متفاوت دیدوی هم د نورو انسانانو په څېر کار کولی شي، اما په کار کولو شرمېږي، زه درته وایم د قیامت په ورځ به خدایﷻ مکړه د ټولې نړۍ انسانانو مخ ته شرمینده یاست ډېری داسې نور موارد شته چې یادوونه به یې لیکنه اوږده کړي، پدې هیله چې خپلو ځانونو او عملونو ته متوجه شۍ.نوټ؛ په انټرنېټ او موبایل کې له ناروا پوسټونو عکسونو ویډیوګانو خپرولو څخه ډډه وکړۍ، ګڼې د قیامت د ورځې ارمان کول به ستاسې لپاره هیڅ فایده ونکړي.

**دوه شیان چې زیاتوالی یې انسان د تباهۍ کندې ته وړلی شي!**

پیسې او ښایسته انجونې**!**که یو شخص په خپل نفس کنټرول ونلري نو شاید چې په دنیاوي عیش وعشرت کې یې غرق کړي نو باید د یو مسلمان په توګه ددې دوه شیانو سره احتیاط وکړو.چې د تاریخ په اوږدو کې دغه دوه وسیلې د مسلمانانو د بې لارې کولو لپاره استعمال شوي هم دي.

**د یو ډاکټر پوښتنه**

دغاښو برس څومره موده وروسته دکاره لوېږي؟ انګریز: یوه میاشت وروسته چینایی: دوې هفتې ورسته امریکایی: تر درو میاشتو کار کوي افغان: دغاښو برس هیڅکله دکاره نه لوېږي**!** ډاکټر: داڅنګه امکان لري افغان: دغاښو برس خو په اول سرکي دغاښو پاکولو دپاره کارېږي، بیا دوېښتانو درنګولو دپاره په کار راځي دهغه نه وروسته دماشینونو دپاکولو دپاره په ښه راځي دبوټانو په رنګولو اوپاکولوکي هم ښه دي او کله چې دبرس زلفان ورژېږي بیا په پرتوګ کي دپرتوګاښ اچولو دپاره هم په کار راځي.

**د اوبو خرس**

یو ډول حیوان چې د اوبو خرس یا**(Tardigrade)** نومېږي، په هر ډول جوي شرایطو کې د منجمد حالت یعنی د صفر نه آن تر 100 سانتي ګراد څخه لوړ په هر ډول شرایطو کې ژوند کولی شي. تر دیرش کلونو پورې کولی شي چې بدون د خوراک او څښاک څخه ژوندی پاتې شي**!**

**د نړۍ ترټولو کوچنی تفنګچه**

د نړۍ تر ټولو وړوکي تفنګچه چې د یو سویسي شرکت تولید دی، چې یوازې 5.5 سانتي متره اوږدوالی لري، او وزن یې 19.8 ګرامه دی، او تراوسه یې 300 نمونې پلورل شوي دي، په کلنی ډول 25 د طلا او 100 د اوسپنې تفګچې په دغه ډول کې تولیدیږي**!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یو حبشي غلام حیرانونکي قیصه

یو ورځ عبدالله بن عمر رض پر لار روان و چې، ګوري یو غلام ناست دی او غلام ته نږدې یو سپی هم پروت دی غلام د خورما سره ګوله خولې ته کړه بیرته یې راوویستله او سپي ته یې وروغورځله......عمرورته وویل دا سپی ستا دی، حبشي ځواب ورکړ چې، نه زما نه دی.ده ورته وویل؛ نو بیا دې ولې له خپلې خولې څخه ګوله راوویستله او سپي ته دې ورکړه...حبشي غلام ځواب ورکړ چې، د سپي له غبرګو سترګو څخه حیا راته درېږي چې، زه یې خورم او سپی راته ګوري...عمر بن عبیدالله ورته وویل چې ته ازاد یې او که غلامحبشي ورته وویل چې زه د بني غاضرة غلام یم....عمر هغوی ته ورغی او سوال یې وکړ چې، دا غلام د چا دی د غلام خاوند ورته وویل چې، دا زما دی....عمر ورته وویل چې، دا پر ما خرڅ کړه!هغه ورته وویل چې، بس ستا شو.عمر ځواب ورکړ چې، نه په خدای مې دې قسم وي چې، یا به یې پیسې اخلې او یا به غلام بیرته ستا کیږي.بیا یې غلام په پیسو واخیست.او ویې ویل چې، تاسې شاهدان ګرځوم چې، دی د الله"ج" د رضا لپاره ازادوم....عمر غلام ته ورغی او زیری یې ورکړ چې، مبارک شه الله"ج" ازادي در نصیب کړه او دا باغچه هم ستا په ملکیت شوه!حبشي غلام ډېر خوشحاله شو او ویې ویل چې، بس نو ددې باغچې ټوله میوه دې د مدینې فقیرانو لپاره خیرات ګرځوومعمر ډېر حیران شو او غلام ته یې وویل چې، درته حیران یم، ټول دې خیرات کړه، سره له دې چې ته پخپله هم فقیر او ورته محتاج یې.....غلام په ډېر قوي ایمان سره ځواب ورکړ چې، له الله"ج" څخه شرمیږم چې، هغه پر ما سخا کوي او زه بیا په هغه کې بخل کوم.

## د شیطان مرسته

سهاروختي یوسړی دلمانځه لپاره جومات ته روان شو،په نیمایي لارکې په خټو کې وښویدو،جامې یې خرابې شوې ،کورته واپس شو جامې بدلې کړې ځان یې صفا کړو بیرته جومات ته روان شو،لارختې وه بیا پکې ولویدو ،کورته واپس شو ځان یې پاک کړو اوجامې یې بدلې بیا جومات ته روان شو،همغه ځای ته چې ورسیدو نو یوسړی یې ولیدو چې چراغ ورسره دی ،پوښتنه یې ترې وکړه چې ته څوک یې؟ سړي وویل ته دوه ځله ما ولیدې چې دلته ولویدې ،نوما اوویل راځه زه به دې دچراغ په رڼا ترجوماته ورسوم، کله چې دواړه دجومات دروازې ته ورسیدل، دچراغ ولا راستون شو، هغه بل غږ پرې وکړو ،ولې مونځ نه کوې؟ هغه په شا شا تلو ،سړي دا وار په ټینګار ورته اوویل ،دننه لاړ شه مونځ وکړه! دچراغ ولاورته وویل زه شیطان یم،کله چې ته اول وار ولویدې او کورته روان شوې، نوستا ګناهونه الله جل جلاله دروبښل ،په دویم ځل چې بیا کورته روان شوې نو ستا دکورنۍ ګناهونه الله جل جلاله دروبښل ،نوپه دریم ځل زه وا یریدم ماویل داځل به دټول کلي ګناهونه الله جل جلاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا له وجې وبښې ،نوځکه مې ته دچراغ په رڼاجومات ته راوستې .الله جل جلالهدې مونږ دشيطان له جالونو وساتې

**دري ګوټيزه نقشه**

فرانسه کې د اروپا د برونزي پېر دري ګوټيزه ډېرينه نقشه موندل شوېڅېړونکو ويلي، د برونزي پېر يوه ډېرينه لوحه تازه کشف شوې ده، چې ښايي په اروپا کې دا تر ټولو لرغونې درې ګوټيزه نقشه وي.لومړنۍ ډبرينه لوحه چې ۲ پر ۱,۵ مترو کې وه، په ۱۹۰۰ کال کشف شوه، بيا په ۲۰۱۴ کال د فرانسې د يوې کلا په ځمکتل کې بله کشف شوه.هغو لرغونپوهانو چې د ۴ زره لرغونتوب لرونکو ډبرينو کيندنو ډولونه يې څېړلي، ويلي باوري دي چې دا نښې د لوېديځ بريټني سيمې نقشې دي.

**د نړۍ تر ټولو اوږد سړک**

د نړۍ تر ټولو اوږد سړک د سوط افريقا هيواد د کيفټاون ښار څخه شروع او د روسيې پر مګډن ښار ختميږي ـ دا سړک تقريبا 22387 کيلو متره اوږدوالی لري، که چيري يو تاسو پر نوموړي سړک هره ورځ 8 ساعته تګ وکړي نو تقريبا په 587 ورځو کې به ورسيږی، ددې صفر  په اوږدو کې به تاسو تر 17 هيوادونو تيريږئ او همدارنګه د کال د 4 فصلونو ليدل به هم تجربه کړئ، پر دې سړک د تلو لپاره هيڅ ډول کښتی ياهم هوايي ځواک ته ضرورت نسته ځکه چې د سيندونو لپاره لوی پلونه ورته جوړ سوي دي .

**د انسان د بدن په اړه حيرانوونکي معلومات**

ساينسي څېړونکي وايي چې د انسان منځنی عمر 70 کاله لري، چې په دغه وخت کې 13 کاله خبرې کوي. 6 کاله خواړه، 23 کاله ويديږي (خوب کوي). په منځني ډول انسان سلګونه ټنه خواړه خوري، که د انسان وزن نږدې 70 کېلو وبلل شي نو انسان به تر نږدې تر 1300 ټنه ځله پورې غذا خوړلې وي. په 24 ساعته کې هر انسان 1000 لېټره هوا تنفس کوي، نو په کلني به هر انسان 9,332,137,500 ليټره هوا تنفس کړې وي. همدارنګه د انسان زړه په يوه دقيقه کې تر له 80 تر 100 ځله پورې غورځي، نو ويلای شو چې د انسان زړه په ټول ژوند کې 2 ميلیارده او 58 ميليونه ځله غورځي. د انسان په سترګو کې 576 ميګاپيکسله کېمرې دي، چې په يوه ثانيه کې 130,000 عکسونه اخېستلای شي او د انسان په بدن کې تر ټولو چټک غړی هم سترګه ده چې په يو وخت د 10 زره عکسونو ترمنځ توپير کولای شي، خو کوچني ماشوم تر 6 مياشتو کې هر څه تور او يا سپين معلوميږي. انسان يوازنی په پښو ولاړ مخلوق دی چې په منځنۍ توګه په ورځ کې 20 زره، په کال کې 70 ميليونه او په ټول ژوند کې 500,000,000 سوه ميليونه ګامونه اخېستلاشي، چې کولای شي تر سپوږمۍ پلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تک وکړي او کولای شي 9 ځله د ځمکې پر کُره راوګرځي. د انسان پر پوستکې هره ګړۍ (ساعت) 30 میلیونه میکروبونه کښېني، چې نږدې 29 میلیونه یې وژل کیږي. او وروروسته له 2 ساعتونو یې یوازې 7 زره پاتیږي. د انسان بدن کولای کولای شي چې نږدې تر °45 درجو تودوښې پوري زغملای شي، او په تدریجي ډول کولای شي په فضا کې تر °150 درجو پورې تودوښه وزغمي. او همدارنګه انسان کولای شي تر °27 درجو کښته د سړښت درجه وزغمي.

**د اوښکو په اړه حیرانوونکي معلومات؛**

"اوښکي"د انسان له سترګو په طبیعي توګه دوه ډوله اوښکې د غم او ډېري خوښۍ په وخت کې بهیږي. د نني پرمختللي ساینس ( **Anthropology** علم البشریات) ځانګې څېړونکي وايي چې دا طبعي خبره ده چې د انسان له سترګو اوښکې د غم او یا خوشحالۍ پر وخت بهیږي، خو دا بهېــدل بیا توپیر لري، دوی له زیاتو څېړنو وروروسته معلومه کړې چې دا اوښکې انسان په دماغ کې (هایپو تهیلمس) برخې څخه د ( ایمبریکل سیستم **Ambrical Sistem**) په اساس له سترګو څخه بهیږي. خو دا د اوښکو بهېدنه بیا ډېره جالبه ده، کله چې تاسو خوشحاله شئ او له سترګو مو اوښکې راځي، نو لومړۍ اوښکه مو دسترګو د ښي (راسته) طرف څخه روانیږي خو کله چې تاسو د غم له لاسه ژاړۍ، نو ستاسو لومړۍ اوښکه د سترګو له (چپ) طرف څخه راونیږي.

《راسته اوښکي د سترکو له ښي او د غم اوښکې د سترګو له چپ طرفونو څخه لومړی بهېدل پیلوي.》 خو دلته یو بل څه ډېر حیرانوونکې دي

الله تعالی دقــرانکریم په دوو آیتونو کې فرمایي:

فَأَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ [سُوْرَةُ الواقِعَة : 8]

وَأَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ مَآ أَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ [سُوْرَةُ الواقِعَة : 9]

ژباړه: د ښي لاس خاوندان، د ښي خاونده څومره ښه دي،

د کیڼ لاس خاوندان، د کیڼ لاس خاوندان څومره بد او سپک دي.

په دې دوو آیتونو کې یو ستر پټ راز نغښتی دی، دلته الله تعالی یو ستر حقیقت بیان کړی دی، هغه داسې چې په دې آیتونو کې الله عزوجل د آخرت په سخته د عملنامو د ورکړې خبره کړې، الله تعالی فرمایي د آخرت په ورځ به هغه کسان چې عملنامې په راسته (ښی) لاس ورکول شي، نو هغوی به ډېر زیات خوشحاله وي، ځکه دا نو تر ټولو خوښیو لویه خوښي ده، نو ښایي دلته د نېکبخته انسانانو تر سترګو د ډیري خوښۍ اوښکي راشي او د خوشحالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښکي خو دساینس له مخې د سترګي له راسته طرف څخه لومړی روانیږي، یعني چې کله انسان عملنامه په راسته لاس ورکړل شي، نو د سترګي له راسته (ښي) طرف څخه به یې د خوښۍ اوښکي هم و بهیږي. اوبدبخته انسانان خو به له لویې تباهۍ سره مخ شي، هغوی به هر رنګه ژړاګاني او آوزاونه کوي، د نجات کړیکي به یې تر خوله وځي، خو دالله د لښکرو (ملائکو) له لورې به د جهـــنم سوځونکي کندي ته ورغورځول شي، په هغه وخت کې به دوی زیات خفه وي ځکه عملنامه به په چپ لاس ورکړل شي، نو د ساینس له مخې د غم، خفګان، افسوس او آرمان اوښکې د سترګو له چپ څخه لومړی بهیږي، په دې وخت کې به د بدبخته انسانانو د سترګو له چپو اړخونو څخه د غم او آرمان اوښکي هم وبهیږي،خو هیڅ کومه ګټه به ورته ونکړي.

## د دوزخ د ⑦ طبـقو په اړه معلومات؛

"دوزخ" هغه ځای چې الله جل جلاله د خپلو سرکښه بنده‌ګانو لپاره له داسې سخت عذاب څخه تیار کړی، چې انسان یې په دې نړۍ هیڅ تصور هم نشي کولای، دوزخ اووه طبقې لري، په هره طبقه کې به یې دهغې وړ کسان غورځول کیږي.

① په لومړۍ طبقه کې به مسلمان ګناهکاران اچول کیږي.

② په دویمه طبقه کې به عیسیویان اچول کیږي.

③ په درییمه طبقه کې به یهــــوادن اچول کیږي.

④ په څلورمه طبقه کې به "اور پرستان" اچول کیږي.

⑤ په پنځمه طبقه کې به د "لمر او سپوږمۍ" عبادت کوونکې اچول کیږي.

⑥ په شپږمه طبقه کې مشرکین اچول کیږي.

⑦ په اوومه تر ټولو لاندېنۍ او سخته طبقه کې به منافقین او ملحدین اچول کیږي

ددوزخ (جــهنم) هره طبقه له یو بل څخه له ډېر سخته او له درناکه عذابه ډکه ده. ددوزخ د اوو طبقو بیان حضرت جبرائیل "ع" زموږ ستر لارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته وکړ، جبرائیل ع له اوومې طبقې ورته را پیل کړه، کله چې لومړۍ طبقې ته ورسېده، نو جبرائیل علیه السلام غلی شو، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ورته وویل ولې غلی شوې، جبرائل ع ورته وویل چې په لومړۍ طبقه کې به ستا د اُمت ګناهکاران اچول کیږي، ددې خبر په اورېدو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سخت غمجــن او خفه شو، درې ورځې یې له هیچا سره خبرې نه کولې، یوازې به جومات ته لاړ، او له هغه ځایه کور ته هم نه تلی او یوازې به بېرته خپلې حجرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ستون شو، ډېره خفه او غمجن و، صحابه کرام رضی الله عالی عنهم هم حیران و چې په حصرت محمد ﷺ څه وشول، ستر لاربنود ﷺ به یوازې په خپله حجره کې سر په ژړا او سخت غمجن و، الله ﷻ ته یې زارۍ کولې چې زما اُمت ددوزخ له عذابه وساته، په درېیمه ورځ پر سجده په ژړا پروت و، چې الله ﷻ زیری ورباندې وکړ،

《وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ》 ژباړه: او ډېر ژر به ستا رب تا ته دومره درکړي چې ته پرې خوشحاله شې.

له دې سره ستر غمخوار حضرت محمد مصطفی ﷺ په ډېري خوښۍ راپاڅېد، او اعلان وکړ چې اي زما امتیانو زما سره الله ﷻ وعده وکړه چې زه به د قیامت په ورځ ستا له آمت سره داسې معامله وکړم، چې ته پرې خوشحاله شې، نو زه تر هغې نه خوشحالېږم، چې وروروستی اُمّتي مې جنت ته نه وي داخل شوی. #سبحان_الله♥ څومره یو ستر غمخوار لرو، څومره ژړاګانې او فریادونه یې په دنیا کې زموږ لپاره کړي، او د آخرت په ورځ به زموږ او ستاسې لپاره دالله ﷻ پر وړاندې شفاعت کوي.

♥صلی الله علیه وسلم♥

**د رسول الله ﷺ لیک؛**

په انځور کې چې کوم لیک وینئ، دا د رسول الله ﷺ هغه لیک دی چې د یوه صحابي رض په لاس د اوسني ایټالیا هېواد پلازمېنې روم ته دامپراطور قیصر "هرقل" ولېږه. دا لیک چې اصلي سند دی اوس هم د ایټالیا هېواد د روم په لوی موزیم کې (د محمد د لیک په نوم) ساتل کیږي. په سیاسي اعتبار سره دغه وخت (۶۲۹ع) کال کې دوه لویو زبر ځواکه امپرطوریو شتون درلود، چې یوه یې د "روم" او بله یې د "فارس" امپراطوري وه. چې وروروسته د (مؤته غذا) د روم پر ضد پېښه شوه. تاریخپوهان وایي چې دا جګړه تر ټولو خونړۍ جګړه وه چې د رسول الله ﷺ په ژوند کې پېښه شوه او دلته نو د روم امپراطوري تر ولکې لاندې ډېر هېوادونه مسلمانانو فتحه کړل.

یادوونه: دا لیک پخپله رسول الله ﷺ ندی لیکلی، بلکې یو صحابي رض دده په لاربنوونه لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نړۍ تر ټولو ویجاړوونکې او ګران بیه ماده▪

د **(Antiomatter)** اینټیمېټر ماده د نړۍ تر ټولو ګران بیه او ویجاړوونکې ماده ده او د یوه ګرام بیه یې 62 ټرېلیونه ډالره ارزښت لري چې یو ګرام **(Antiomatter)** ماده یې کولای شي د نیویارک ښار په بشپړه توګه ویجاړ کړي. اینټیمېټر **(Antiomatter)** ماده د اصلي مادې ضد ده، هغه داسې چې د اصلي مادې **(matter)** پروټون مثبت او الکترون یې منفي چارج لري، خو د مادې ضد **(Antiomatter)** پروټون منفي او الکترون یې مثبت چارج لري. کچیري یوه کېلو د مادې ضد **(Antiomatter)** له یو کېلو مادې سره یو ځای کړل شي، نو 43 میګه ټنه **TNT** انرژي به ازاده کړي، او له هغه اټم بم څخه به 3,000 ځله قوي وي، کوم چې د امریکا متحده آیالاتو د جاپان پر هیروشیما ښار وغورځاوه.

## د ځینو لکۍ لرونکو سیارو په اړه لنډ معلومات

لکۍ لرونکي سیاري چي په عام توګه دغه ته لکۍ لرونکي سیارې وایي او په انګلیسي کي دغه ته کومیټ وایي . کومیټ د لاتینی لفظ کومیټا څخه اخیستل شوي دي چې مطلب یی د اوږد وریښتانو والا دی.د لکۍ لرونکو ستورو پر ځاي دغه ته لکۍ لرونکی سیارې ویل سم دی ولي چي ددوي خواص له سیارو سره یو شان دی خو له ستورو سره نه . مثلا په دوي کي خپله رڼا نه وي د لمر وړانګی منعکس کوي ، د دوي مقام د ستورو په تناظر کي بدل کیږي او دوي د لمر په شاوخوا څرخي . که چیری د دوي دا څرخ د حد څخه زیات بیضوي وي نو دوي لمر ته بلکل نږدې راشي او کله بیا له پلوتو څخه لا لیرې ولاړ شي.د دوي سرعت د کیپلر قانون په مطابق د لمر څخه د فاصلي په بنیاد باندی بدل کیږي . نو کله چی لمر ته نږدې وي نو سرعت زیات تیز وي او لکه څرنګه که له لمر څخه په لیرې کیدو وي نو په سرعت کي یي بدلون راځي یعنی کرار کیږي . #جوړښت٠یی دغه ۳ برخي ویسر ، قلب ، لکی د لکۍ لرونکي سیارې ماده زیات لطیف وي . نو په همدغه خاطر دلکی لرونکو سیارو په جسم کي ستوری په ځلیدو په نظر راځي.د دوي لکۍ ډېره اوږده وي تر دغه اندازي چي د بعضي لکۍ لرونکو سیارو لکیانی په میلینونو میله اوږدي وي . #قلب: مابینځي روښانه برخي ته وایي او سر قالب هم ورته وایي د قلب ومخته یوه ماده وي . یو وخت قلب او سر دواړو ته سر وایي ، په دغه صورت کي لکی وي . د لکۍ لرونکو سیارو لکیانی تل له لمر څخه د سر په مقابل کي لیرې وي که هغه لمر ته رارون وي که له لمره لیرې روان وي دځینولکی٠لرونکوسیارو٠پیژندنه: [ بینتهد لکي لرونکي] : دا لکی داره سیاره جي شي بینتهد په ۱۹۶۹ م کال کي کشف سوه دا په صفر درجی د هایدروجن ګاز ملفوفه مدار وو . [شومیکر ، ډیوډ لکی لرونکی ]: دا لکی داره سیاره شومیکر او ډیوب ایچ لیوي خاوند او میرمن په پالومر آبزرویډی کیلیفورنیا کي د دوربین په واسطه کشف کړه. [د سوفت وتتل لکی لرونکي ]: سوفت وتتل په ۱۸۶۲ م کال کي یو لکی داره سیاره کشف کړ او د ۱۲۰ کلونو د دور هامل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکی لرونکي وشود مګر ددغه دور په مطابق دغه باید په ۱۹۸۲ کي په نظر راغلی وي مګر په نظر نه راغلی ساینسپوهانو ته دا شک پیدا سو چي د ختم شوي مګر د توقع خلاف ۱۹۹۲ کي په نظر راغلی.

## عجبِ ذنب Tail bone او میډیکل ساینس

په تصویرونو کې د انسانی مُلا په تیر کې هغه اخیرنی هډوکي ته اشاره سوي چې په حدیث کې ورته (عجبِ ذنب) او د طبي ساینس په اصطلاح کې ورته ټیل بون **(Tail bone)** ویل کیږي د ساینس په وینا که د انسان مرګ په هر حالت کې ووسی که په اور کی وسوځول سی که په اوبو کې غرق سی ولؤ که په ځمکه کې له خاؤرو سره خاؤری سی لاکن د هر انسان په مُلا کې ددغه (عجب ذنب) هډوکي جینیاتی وجود تر لکونو او ملیونو کاله پورې هم نه خاؤری کیږي او نه ضایع کیږي . جدید ساینس پخپل تحقیق کې زیاتوي چې د انسانی مُلا په دغه هډوکي کې عجیب حکمت داده چې دغه هډوکۍ په انسانی وجود کې د میموری کارډ یا (توربکس) غوندي فعالیت لري یعني په دغه هډوکۍ کې د انسانی تخلیق رازونه **(DNA)** قد و قامت وزن د خلیاتو تعداد د وینی ګروپ حتٰی چی د ګوتو تر نښاناتو پورې مکمل تفصیلات الله جل جلاله په دغه (عجبِ ذنب) هډوکی کی محفوظه ساتلی دي، ځکه په قرآن او حدیث کي له دغه هډوکی څخه په ورځ د قیامت بیرته د انسانی نسل ژوند ، تخلیق او تکمیل ته اشاره شوی ده

الحدیث : كُلُّ اِبْنِ آدَمْ يَا كُلُهُ التُّرَابْ اِلَّا عَجْبِ ذَنَبِ مِنْهُ خَلْق وَفِيْهِ يَرْكَبُ o

ژباړه : ټول د آدم اولاده به له خاؤرو سره خاؤری شی ما سیوا د (عجب ذنب هډوکی) انسان له هغه څخه تخلیق شویَ او بیا به هم تخلیق کیږی (په ورځ د قیامت) .

(حدیثِ صحیح مسلم : 7604)

(راوی : حضرتِ ابو هریره رضی الله عنه)

## الوتونکي موټر

الوتونکي موټر د دوو هوايي ډګرونو تر منځ 'په بریالیتوب سره' هوايي سفر وکړ!یوه الوتونکي موټر یا 'فلاینګ کار ' د سلواکیا نیترا او براتیسلاوا ښارونو د دوو نړیوالو هوايي ډګرونو تر منځ په بریالیتوب سره ازمايښتي الوتنه تر سره کړه.دغه موټر چې د الوتکې او دودیز موټر تکنالوژۍ پر مټ چمتو شوی، بي ایم ډبلیو ماشین پکې ځای پر ځای شوی دی، او عادي پټرول پکې کاروول کیږي.د دې موټر مؤسس پروفیسر سټیفن کلین وایي، تر زر کیلومتره پورې د ۸۲۰۰ فوټه لوړوالي په اندازه الوت کولای شي، او تر اوسه یې ۴۰ ساعته په هوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې تېر کړي دي.له موټر نه د الوتکې بنې ته د بدلون لپاره دا ګاډی یوازې دوې دقیقې او ۱۵ ثانيې وخت ته اړتيا لري

### سیلوا نومي ښځه خپل زړه په بیک کي ګرځوي

۳۹ کلنه سېلوا په نامه دا ښځه خپل زړه په يو بيک يا بکس کې دځانه سره ګرځيی.درې کاله مخکې ددې زړه خپل فعاليت دلاسه ورکړو . د وينې د پمپ کولو پخاطر د زړه با وجود د يوې برقي بېټرۍ.موټور او پمپ په وسيله ددې بدن ته وينه پمپ کوله .

که چيرې تاسو روغ اوجوړ یاست نو د الله ج . شکر وکاږو الحَمْدُ ِلله.

### وروستي پيژندل شوي حيوان

د وروستي پيژندل شوي تاکاکين چې د "تاسانيان پړان" په نوم هم پيژندل کيږي دا تايلاکسين کولی شي خپله خوله 90 ° زاويه ته خلاص کړي.

### هغه مرغه چې د سمساري له خولې غذا راوباسي؛

**(Egyptan plaver bird)** په نومي مرغه کله چې سمساره خواړه وخوري نو په غاښونو کې يې اضافي مواد بنديږي، سمدستي همدا مرغه ورته راځي، سمساره خوله ورته پرانيزي، او مرغه د سمسارې په خوله کې کښيني، ټول مواد ورڅخه خوري، دلته هم مرغه په نس موړ شي، او د سمساري له غاښونو اضافي مواد ووځي او ډېر د آرامی احساس وکړي . سمساره هر هغه څه چې مخکې ورځي، له خپل ستوني يې تېروي، خو يوازي همدا يوه مرغه ته چې د سمساري په خوله کې غذا ورته رسيږي او سمساره يې نه خوري .

]سُوْرَةُ هُود : 6[

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِى الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ

ژباړه: په ځمکه کښې هيڅ داسي کوم خوځنده ساکښ (ژوندی موجود) نشته، چي د هغه روزي د الله په غاړه نه وي او د هغه په باب ونه پوهيږي چي هغه چيري اوسيږي او چيري هغه سپارل کيږي. هر څه په يو روښانه دفتر کښي ثبت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالفين «ډولفين» کبان

دولفين کبان (ماهيان) چې ډېر زيات ځيرک او د اوږدې حافظې لرونکی حيوانات دی، د ګارډين ورځپاڼې د ۲۰۰۳ م کال يوه ليکنه مې لوستله چې د امريکا په ميسيسيپي ايالت کې د **Marine Mammal Studies** په نامه يوې موسسې ډولفينونه داسې روزلي و، چې کله به يې هغه تالاب ته چې دا ډولفينان پکې ساتل کېدل چا کاغذ او يا کومې خځلې ورواچولې نو ډولفين کبانو به هغه له اوبو څخه را ټولې کړې او له ځان سره به يې وساتلې او چې کله به ددې ډولفينانو روزنکی راغی، هغه ته به يې د خوړو په مقابل کې ورکولې، او په دې سره به يې دخپل حوض د اوبو پاکوالی ساته، خو جالبه دا وه چې د **Kelly** په نامه ډولفين به هغه کاغذونه چې حوض ته به خلکو وراچول په خپل حوض کې له يوې ډبرې لاندې پټول او هرکله به يې چې روزونکی راتللو نو هغه کاغذ به يې دوه ټوټې کاوه چې دوه ځلې پرې خواړه واخلي، د ډولفين ځيرکي په دې ځای ختمه نه شوه ، يوه ورځ يې د حوض د اوبو پر سر يوه مرغۍ راونيوه او له ځان سره يې پټه کړه کله چې روزونکی راغی دا چې مرغۍ غټه وه ، روزنکي يې ډېر خواړه په بدل کې ورکړل ، له دې سره **Kelly** ته بل فکرپه سر کې وروګرځېده ،هغه دا چې کوم کبان روزونکي په خوړو کې ورکړي و، هغه يې له ځان سره وساتل او په بله ورځ يې د مرغانو د ښکار لپاره د اوبو پرسر واچول ، چې مرغۍ پرې ښکار کړي او په دې سره به يې هغه ښکار کړې مرغۍ روزنکي ته ورکولې او ډېر خواړه به يې پرې ګټل.

## د دوبۍ په دښته کې د دوو جوړه زوړنو جهيل!

دا ښکلی او په زړه پورې جهيل ، د دوبۍ په دښته کې د مينې سمبول ګڼل کيږي ، او په ډيرې تيزۍ سره يې د خلکو پام ځانته را اړولی. داجهيل د متحده عربي اماراتو د دوبی په صحرا کې په 550000 متره مربع کې له ښاري ساحې څخه لرې په دښته کې جوړ شوی، زرګونو ډولونو بوټې، 16000 ونې او په زرهاو ښکلي رنګا رنګ ګلونه لري.د جهيل په خوا کې په انګليسي کې **Love** ليکل شوي، چې له هوا څخه د ليدونکو سيلانيانو پام هم را اړوي.دغه جهيل په 2018 کال کې سيلانيانو ته پرانيستل شو ، چې وروسته د دوبۍ واکمن شيخ همدان محمد بن راشد المکتوم هم په خپل انسټاګرام اکاونټ کې د دغه جهيل عکس شريک کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په نړۍ کې د ځينو هيوادو قانوني معلومات

1- د 18 کالو څخه د کم عمر لرونکو کسانو لپاره د پيپسي څښنل منعه دئ.!

ناروي هيواد

2- که تر 27 کلنۍ پورته عمر ولري او بيکاره وي يعني کومه دنده ونه لري نو سمدلاسه اردو ته ليږدول کيږي.!

شمالي کوريا هيواد

3- د سګرټ څکولو لپاره قانوني عمر يوازې له 15 کالو څخه لوړ دي!

مکسيکو هيواد

4- امريکايي موټرونه پيرودل منعه دي په شمالي کوريا کې.!

شمالي کوريا هيواد

5- هر څوک کولای شئ په جرمني هيواد کې د 14 کلنۍ عمر څخه د موټر چلولو جواز ترلاسه کړئ!

جرمنی هيواد

6- په برما هيواد کې و فوټبال، باسکيټبال، او سينما ته اجازه نشته.!

برما هيواد

7- له زندان څخه تښتيدل يو جرم دي چې د قانون لخوا مجازات شوي نه وي.!

جرمنی او ډنمارک هيوادونه

8- په عامو ځايونو کې ژړا کول منعه ده.!

کولمبيا هيواد

9- هر څوک بايد د کورنيو چارو له وزارت څخه اجازه وغواړئ که چيرې غواړئ چې د خپلو ويښتانو رنګ بدل کړئ.!

شمالي کوريا هيواد

10- نيلي يا شين رنګه جامې اغوستل منعه دي، ځکه چې دا رنګ د امريکايي امپرياليزم سمبول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښه ده.!

شمالي کوریا هیواد

11- د خپلې میرمنې کلیزه هیرول غیرقانوني دي.

سموا ټاپو

12- هر څوک د نوي قانون وړاندیز ورته کولی شئ.

سویزرلینډ یا هم سویس هېواد

13- په جاپان هیواد کې د زیات وزن درلودل یو جرم دي او د قانون لخوا مجازات کیږي هم.

جاپان هیواد

14- هر څوک باید د یو عادي موټر د وژلو لپاره د حکومت څخه اجازې وغواړي او وروسته بیا موټر ووژنئ.

هندوستان هیواد

15- د انټرنیټ کارول منعه دي ځکه چې باید لهټولو وزارتونو څخه اجازه ترلاسه کړي.

شمالي کوریا هیواد

16- د غرمې له 12 بجو وروسته د تلویزیون لیدل منعه دي.

کامېرون هیواد

17- د خپلې کورنۍ پر یو غړي د محمد، عبدالله، او یا احمد نوم ایښودل منعه دي.

برما هیواد

18- د موټر چلولو پرمهال د مایعاتو څښل منعه دي، هغه که څه هم ساده اوبه وي.

یونان هیواد

19- میرمن کولی شي د خپل خاوند نوم بدل کړي، او خاوند بیا نه شي کولی چې په خپلې میرمنې باندې اعتراض وکړي.

هالینډ هیواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



20- يوه ميرمن کولی شي له محکمې څخه وغواړي چې د خپل خاوند موقعيت وپيژني په هر وخت کې د "هري پيښې تعقيبونکي وسيله" نصب کړي.

جنوبي افريقا هيواد

### وزر لرونکي مرمي

دا مرمی يو ډول وزرې لري چې په نس او ځيګر کې په لګېدو د انسان د ژوندي پاتې کېدو چانس صفر ته رسوي. ځکه دننه ډېر زيات او لوی زخمونه رامنځته کوي. او که په لاس يا پښه کې ولګېږي، نو حتماً بايد هغه اندام غوڅ کړل شي -لکه څنګه چې د بښي لاس په تصوير کې ښکاري- ځکه نور د جوړېدو نه وي. په دغو مرميو په تېرو ۱۰ مياشتو کې تر ۵۰۰ غزه‌يي فلسطينيان وژل شوي او تر ۳۰ زرو پورې ټپيان شوي. په ټپيانو کې اکثرو خپل اندامونه له لاسه ورکړي دي.او حيرانوونکې دا ده چې نړيوال يې په عمومي نړيواله مېډيا کې په اړه هېڅ هم نه اوري او نه يې لولي، ځکه دغه ميډيا يې په اړه له سره راپور نه ورکوي. او که يې ورکوي نو يوطرفه او له واقعيتونو ليرې وي.

### په امريکا کې پوليس په دري ورځو کې قاتل نه شي نيولای

که چيري تاسو د امريکا په متحده اياالاتو کې يو څوک ووژني نو په 3 دروو چانسونو کې 1 يو چانس شته چې پوليس ستاسي قاتل ونيسي . د يوې سروې لمخې د 1960 م کال راهيسي 200000 دوه لکه د وژني قضيې تر اوس مهاله پوري ندي حل شوي او نوموړي وژونکي آزاد ګرځي .

### د مرغيو ګټه

په کال 1958م کې دچين واکمن مشر خپل ملت ته امر وکړ، چې موسمي مرغان د ې ټول ووژني؛ ځکه دوی د ځمکې حاصلات خوري او د زراعت محصولات کموي.د مشر د امر نه وروسته بزګرانو به په زرهاو موسمي مرغان ووژل او چاچې ډېر مرغان وژل هغوی به په انعامونو نازول کېدل. هغوی ته دملي اتلانو لقبونه هم ورکول کېدل.څه وخت وروسته دچين ټولو اطرافو کې ملخان زيات شول، هغه ملخان چې مرغانو به خوړل، ملخان دومره زيات شول چې يوه غميزه يې جوړه کړه، دکرهڼې ټول محصولات ملخانو وخوړل، ترديې چې په کال 1961م په چين کې لويه لوږه رامنځته شوه او 15 ميليون انسانان د لوږې نه مړه شول.دا ګومان مه کوه چې د چانه د رزق قطعه کولو يا کمولو سره ستا رزق به زياتيږی او ژوند به دې ښه شي، دټولو انسانانو رزق په تقدير کې تقسيم شوی هرچا ته دخپل قسمت په اندازه رسيږی. کېدای شی د کوم کس نه چې ته رزق قطع کوي، هغه ستا نه لوې لوې بلاګاني او شر دفع کړي او ته وربانديې نه پوهيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خوشالۍ نړیوال راپور!

افغانستان تر ټولو غمګین او فنلنډ بیا تر ټولو خوشحاله هېواد دی.نړۍ کې د خوشالۍ کلنۍ راپور چې د ۱۴۹ هېوادونو له وګړو پوښتنې سره جوړ شوی، او ملګرو ملتونو هم په کې ونډه لرله، یو ځل بیا فنلنډ د نړۍ تر ټولو خوشال هېواد اعلن شوه.دا څلورم پرلپسې کال دی،چې فنلنډ د نړۍ هېوادونو کې د خوشاله هېواد ځای خپلوي.له فنلنډ وروسته ډنمارک، ایسلنډ، سویس او هالنډ د نړۍ د تر ټولو خوشالو ملتونو جدول کې په ترتیب سره تر پنځمې درجې پورې راغلي دي.نیوزیلنډ بیا یواځنی نااروپایي هېواد دی، چې دې ډلبندۍ کې په لسو هېوادونو کې اول ځای ګټي.افغانستان هم په دې ډلبندۍ کې شتون لري، خو تر ټولو وروستی.

خدایه!سوله راوله

## د نړۍ ترټولو کوچني هیواد

د #واتیکان هېواد ټول نفوس (۸۰۲) اته سوه دوه تنه دی! ټول ۱۳۵ سرتېري لري، چې د ددې هېواد د مشر ( پاپ ) ساتنه کوي، دا ټول عسکر نارینه دي، د سوئیس اردو لخوا روزل شوي، او له 174 سانتي مترو څخه لوړ دي. واتیکان وسله وال ځواکونه نه لري، نظامي دفاع یې د ایټالیا مسؤلیت دی. په واتیکان هېواد کې طلاق ممنوع ده، او د ښځو لپاره هلته کار هم غیر نا ممکن دی، یوه لاره شتون لري هغه دا چې یوه عادي مېرمنه به د سوئیس نظامي ګارد سره واده کوي. د سوئیس نظامي ګاردانو په لیکو کې یوازې مجردان نیسي. د واتیکان ښار له پلورنځیو مالیه نه اخیستل کیږي نو په همدې دلیل یې قیمتونه په سلو کې ۲۵ سلنه ټیټ وي. هر کال شاوخوا 5 ملیونه ګرځندویان واتیکان ته ورځي، او سیلانیان پدې هېواد کې د عایدو ترټولو مهمه سرچینه ده.

## د ښیښې ساحل کالیفورنیا | Glass Beach California:

د سیند غاړه یا ساحل په ټوله نړۍ کې د تفریح او طبیعي مناظرو له بهترینو ځایونه څخه شمېرل کیږي، خو په نړۍ کې ځیني داسې ساحلونه یا د سیند غاړې هم شته چې له معمول نه ور ها خوا د نورو بېلو ځانګړنو درلودونکي دي. له همدغو ساحلونو څخه یو هم د کالیفورنیا (امریکا) ګلاس بیچ یا ښیښه یي ساحل چې د خپلو رنګارنګ او شفافو سمندري تیږو له امله مشهور دی.

لاملونه: کانچ یا سمندري تیږې هغه وخت په وجود کې راځي کله چې سمندر ته غورځېدونکي د ښیښې مختلف شیان لکه بوتلونه، د فابریکې ضایع شوې ښیښې او داسې نور د سمندر په تل کې د اوبو له حرکت سره سم اوړي را اوړي او پېچل کیږي/تاوېږي نو د دغو ښیښو ټېرې ټوکې ختمېږي او ګرد و ښویه شکل اختیاروي. دغسې سمندري تیږې د سیند له څپو سره ساحل ته رسیږي، د کالیفورنیا په ښیښه یې ساحل کې د دغو مقدار په نړۍ کې ترټولو زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. دغه سمندري ښيښې د عامو سمندري تيږو په مقابل کې يو گرانبيه شی دی چې په ښلابڼلو جواهراتو کې کارول کيږي.

سياحت: په ژمي کې د هرې ورځې په حساب سره له ۱۰۰۰ څخه نيولې تر ۱۲۰۰ پورې سيلانيان دغۀ ساحل ته ورځي، له دغه ځايه د ښيښو او تيږو د وړلو اجازه نشته خو زياتره سيلانيان د دغو لارښوونو پروا نه ساتي چې له امله يې د دغو ښيښو په مقدار کې کموالی روان دی.

## د امريکا په متحده ايالاتو کي شني اوبه

شني اوبه په امريکامتحده ايالاتو کې د سيند شنو اوبو خلک حيران کړه. د نړيوالو ميډيا راپورونو په وينا ، کله چې د شيکاګو اوسيدونکي سهار له خوبه راويښ شول ، دوی په سيند کې شنې اوبه وليدلې ، چې دوی يې حيران کړل. دشيکاګو سيند د اوبو رنګ هر کال د مارچ په 17 بدليږي، مګر داخل يوازې د مارچ په 14 دا صحنه وليدل شوه.ښاريانو په انټرنيټ کې د شين سيند عکسونه او ويډيوګانې شريکې کړې ، په کوم کې چې اوبه په روښانه ډول شنې ليدل کيږي.د متحده ايالاتو د رسنيو راپورونو په وينا ، د عيسوي مذهبي ورځې ، ايس ټي پيټريک ورځې په مناسبت هر کال داوبو رنګ شين کوي . د راپور په وينا ، دغه کلتوري دود له 1962 راهيسې په شيکاګو کې لمانځل کيږي. سږکال د شيکاګو ښاروال د مارچ په 14 نيټه سيند اوبه شنې کړې ترڅو ښاريان حيران کړي.

## که څه هم ليکنه اوږده ده خوډيره جالبه ده!

د ستورو پيژندونکو او پوهانو يوه نړيوال ټيم د يوې نوې ځلانده (TOI-1231b) سيارې د پيژندلو خبر ورکړی، د دوی په وينا چې د دې سيارې ځينې ځانګړنې لکه د تودوخې درجه ځمکې ته ورته دي. د ځينې راپورونو له مخې د ديجياتو په وينا د دې ټيم په واسطه کشف شوې سياره چې TOI1231b نوميږي، دوی باور لري، چې دا سياره به د ډيرو د پام راړولو وړ وګرځي؛ ځکه له ځمکې سره ورته والې لري او انعطاف منونکې برخه به يې په راتلونکې کې ډيره تر څيړنو لاندې ونيول شي. دا سياره د NLTT سره کوتوله په نوم ستوري څخه تاويږي، چې له لمر څخه ډيره يخ ده. دا سياره د **(sub- Neptune)** په نوم يادېږي، ځکه چې له نيپتون څخه کوچنۍ او له ځمکې څخه لويه ده. اوسمهال په دې باور نه لرو، چې لومړی درجه کې به د تيږو له يوې سيارې سره مخ يو، نو د دې له پاره د ځمکې وريځې په نظر کې نه نيول کيږي، خو د دې سيارې پيدايښت به د پوهانو له پاره د لازياتو معلوماتو د پيدا کېدو موقع برابره کړي. د دې ډلې له پوهانو څخه ( ديانا دراګومير) وايي، چې د TIO-1231b سيارې ته په کتو سره مخکې له دې چې و وايو دا يوه د تيږو سياره ده، بيرونۍ برخه يې د پام را اړونې وړ ده، چې د دې برخې ترکيب او لويوالی تر اوسه نه دی معلوم شوی. دا سياره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي، چې بیروننۍ برخه یې ډېره هایروجن، هایدروجن هلیم وي یا د اوبو د بخار متراکمه برخه هم ولري. د سیارې د جوړښت دا بېلا بېل ډولونه د پیل د ټکي یوې ځانګړې برخې ته اشاره کوي او د دې امکان ستورو پېژندونکو ته برابروي، چې د سره کوتوله ستوري او لمر د شاه او خوا سیارو ترمنځ توپیر ته متوجه شي. د هابل فضایي تلسکوپ څېړني هغو پوښتنو ته ځواب وایي، چې په راتلونکي کې موږ ته پیدا کېږي او د جیمزوب فضایي تلسکوپ به د دې سیارې د جوړښت په اړه دقیق معلومات وړاندې کړي. د TOI1231b د سیارې د کشفېدو لامل د هغه د ستوري اندازه ده. پوهان چې کله د فضا عمق ته نظر کوي، د هغو لاملونو پر اساس چې سیارې پر ستورو تاثیر لري، دوی په ډېرې اسانۍ سره کولای شي، چې سیارې د کوچنیو ستورو په مدار کې کشف کړي. په دې برخه کې د نیپتون د سیارې لاندې یوه کوچنۍ سیاره چې له یوه فرمز ډوله ستوري څخه تاوېږي، چې له خپل ستوري څخه د تېرېدو په وخت کې یو لوی سیوری پر هغه غورځوي، چې بیا په ډېر دقت سره یوه سیاره پېژندلای شي.

## د ایټالیا په روم ښارکي Appian way سړک

. دا سړک 530 کیلومتره اوږدوالی لري؛ د حیرانتیا خبره داده چې دا سړک دعیسی (ع) له زوکړې څخه 312 کاله مخکې چې له نن څخه 2321 کلونه کېږي جوړ شوی او نن هم استفاده ورڅخه کېږي.تاسي مو خپل سړکونه وګورئ چې پرون مو جوړ کړي ، څه حال یې دی او په څه حال مو کړي دي؟

## د فیسبوک کمپني په اړه یو خنده ونکي راز

نن سبا که یوې خبرې ته متوجه شوې یاست، نو د هر چاړواکي، فلمي و هنرې ستورې نیولې تر عام وګړي به د ټولنیزې رسنۍ فیسبوک د بندیدلو یا ځیني پوستونو ردولو څخه سرټکوي، چې هر څوک یې بېلا بېل لاملونه ذکر کوي. راځئ نن هم درسره د ورته شکایاتو څخه یو په زړه‌پورې خبر شریکوو. ځیني 'پیاز' عام دي او ځیني پیاز ممکن فیسبوک لپاره خورا ښکلي وي، چې دوی اجازه نه ورکوي په خپل پلیټ فارم کې یې پوسټ شي. په دې وروستیو کې د کاناډا یو پلورنځي یوې نوي موضوع ته پام اړولی؛ کله چې یې په ټولنیزو رسنیو فیسبوکپاڼه د خپل پلورنځي لخوا ځړول شوی اعلان لرې شو، دا ځکه چې د دې اعلان انځور د پیازو ؤو، چې د فیسبوک لپاره خورا زړه راښکونکي وو، چې په وجه یې سترګې یا نظر خیره کېده. وروسته له دې پېښې څرګنده شوه، چې فېسبوک د یوې اعلامیې په خپرولو سره ښښنه غوښتي او ویلي یې دي، چې دا یې په اتومات ټیکنالوژۍ کې د غلطۍ له امله شوي. په کاناډا کې د «والا والا» نومي پلورنځی د خپلو محصولاتو د اندازې او په ذائقه لرونکو خوړو خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور دی. یاد پلورنځی وایي چې د دوی په استازیتوب په خپور شوي اعلان کې ، دوی په یوه ټوکرۍ کې ځینې پیاز په داسې شکل ابښي وو، چې تر ځنګ یې یو پرې یا مات شوی پیاز هم ایښئ و.د پلورنځي مدیر وایي،کله چې یې د فېسبوک د اعلان ردولو لامل وموند، نو د فیسبوک پدې پرېکړه او د انځور د لېرې کولو په غوښتنه د حیرانتیا تر ځنګ خندا هم راتلله ، نوموړي د عکس پوسټ کولو او په ټولنیزو رسنیو کې د فیسبوک لخوا د لیږل شوي پیغام په اړه فیسبوک ته عریضه یا هم د وریپښې ستونزې د حل غوښتنه هم وکړه فېسبوک بي بي سي ته ویلي، چې ستونزه د دوی د اتومات ټیکنالوژۍ له امله رامنځته شوې، ځکه چې دا په خپل پلیټفارم کې د «عریانیت/ لوڅوالي» خپرولو مخه نیسي. فېسبوک وایي، چې دوی دا اعلان بیرته نیولی او دوی په دې مسله شرمنده هم دي. نن سبا که یوې خبرې ته متوجه شوې یاست، نو د هر چارواکي، فلمي و هنرې ستورې نیولي تر عام وګړي به د ټولنیزې رسنی فیسبوک د بندیدلو یا ځینې پوسټونو ردولو څخه سرټکوي، چې هر څوک یې بېلا بېل لاملونه ذکر کوي. راځئ نن هم درسره د ورته شکایاتو څخه یو په زړهپورې خبر شریکوو.ځینې 'پیاز ' عام دي او ځینې پیاز ممکن فیسبوک لپاره خورا ښکلي وي، چې دوی اجازه نه ورکوي په خپل پلیټ فارم کې یې پوسټ شي. په دې وروستیو کې د کاناډا یو پلورنځي یوې نوي موضوع ته پام اړولی؛ کله چې یې په ټولنیزو رسنیو فیسبوکپانه د خپل پلورنځي لخوا ځړول شوی اعلان لرې شو، دا ځکه چې د دې اعلان انځور د پیازو ؤو، چې د فیسبوک لپاره خورا زړه راښکونکي وو، چې په وجه یې سترګي یا نظر خیره کېده. وروسته له دې پېښې څرګنده شوه، چې فېسبوک د یوې اعلامیې په خپرولو سره ښنه غوښتي او ویلي یې دي، چې دا یې په اتومات ټیکنالوژۍ کې د غلطۍ له امله شوي. په کاناډا کې د «والا والا» نومي پلورنځی د خپلو محصولاتو د اندازې او په ذائقه لرونکو خوږو خورا مشهور دی. یاد پلورنځی وایي چې د دوی په استازیتوب په خپور شوي اعلان کې ، دوی په یوه ټوکرۍ کې ځینې پیاز په داسې شکل ابښي وو، چې تر ځنګ یې یو پرې یا مات شوی پیاز هم ایښئ و. د پلورنځي مدیر وایي،کله چې یې د فېسبوک د اعلان ردولو لامل وموند، نو د فیسبوک پدې پرېکړه او د انځور د لېرې کولو په غوښتنه د حیرانتیا تر ځنګ خندا هم راتلله ، نوموړي د عکس پوسټ کولو او په ټولنیزو رسنیو کې د فیسبوک لخوا د لیږل شوي پیغام په اړه فیسبوک ته عریضه یا هم د وریپښې ستونزې د حل غوښتنه هم وکړه. فېسبوک بي بي سي ته ویلي، چې ستونزه د دوی د اتومات ټیکنالوژۍ له امله رامنځته شوې، ځکه چې دا په خپل پلیټفارم کې د «عریانیت/ لوڅوالي» خپرولو مخه نیسي. فېسبوک وایي، چې دوی دا اعلان بیرته نیولی او دوی په دې مسله شرمنده هم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تیز رفتار الوتونکي

(بارټیلډ ګاډوید) چې ډیرې جالبه ځانګړنې لري، دا مرغان د ډیر سرعت او خوب له امله په جیټ او دوه پیلوټه الوتکو باندې هم مشهور دي. د سپټمبر د میاشتې په نیمایي کې خپل کلنۍ 7700 میله سفر له الاسکا څخه پیل کوي او د همدې میاشتې په 27 تاریخ او ځینې نور آن په 24 باندې خپل ځان نیوزیلنډ ته رسوي، دوی دا ټول مسیر نه بښکته کیږي، او خوب په خاص ډول سره کوي، چې یوه خوا مغز یې ویده او بله خوا یې فعال وي، او کله چې هغه فعال شي، بله خوا بیا خوب کوي له همدې کبله ورته دوه پیلوټه الوتکې هم وایي. کیدای شي سوال درسره پیدا شي چې خوراک څنګه کوي؟ دوی مخکې د سفر له پیل کیدو خپل ځان آماده کوي او د بدن زیاتره برخې یې کوچنۍ کیږي، ترڅو وزن یې کم شي او خوراکه یې په ډیره اندازه په وازده باندې بدلیږي، چې د سفر په ترڅ کې ترې استفاده کوي.

### د لمر د تودوخې اندازه؛

"لمر" دومره ګرم دی چې که چیري د ستنې د سر په اندازه یوه کوچنۍ زره یې په ځمکه کېښودل شي، نو موږ د 145 کېلو مټره لیري واټن څخه ووژني.د ساینسي څېړنو له مخې د لمر د ســـطحې (د لمر د مخ) د تودوخې درجه نږدې 【5500°】 سانتي ګراد ته رسیږي، خو د لمر د هستې (یعني دلمر د منځنۍ برخې) د تودوخې درجه بیا نږدې 【15،000،000°】 میلیونه سانتي ګراد ته رسیږي. همدارنګه د لمر د اتموسفیر تودوخه هم میلیونونو سانتي ګراد درجو ته رسیږي، خو حیرانتیا داده چې دلته د لمر د سطحې او اتموسفیر د تودوخې ترمنځ ولـې دومره لوی توپیر دی، په دې اړه وروروستیو ساینسي څېړنو ثابته کړې چې د لمر پر سطحه 「Nanoflares」 په نوم لویې چاودني رامنځته کیږي، دا چاودنې د لمر د اتموسفیر د زیات تودښت لامل ګرځي، ځکه کومې چاودنې چې د لمر پر سطحه رامنځته کیږي د هغو پلاسما او انرژي په زیاته بڼه د لمر اتموسفیر ته انتقالیږي، نو ځکه یې د لمر د اتموسفېر د ګرمښت درجه میلیونونو سانتي ګراد ته رسولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پخونیو عربانولـــــــس تجربي

1-له هغه ځایه اوبه وڅښئ چي آسان يې ځني ځښي، ځکه آسونه هیڅکله خرابي اوبه نه څښي.

2-د خوب بستره مو پر هغه ځای هواروئ چي پیشیاني/پیشوګاني هلته ویدېږي، ځکه د پیشیانو راحت خوښېږي.

3-هغه مېوې وخورئ چي چینجیانو لمس کړي وي خو ورننوتلي نه وي، چینجیان تل په هغو مېوو پسي ګرځي چي تر حد ډېري پخې سوي وي.

4-درختي/ وني مو په هغه ځای کي کښېنوي چي سارایي موږکان يې کني، ځکه دوی تل په حاصلخېزو مځکو کي ژوند کوي.

5-کور مو پر داسي یوه مځکه جوړ کړئ چي ماران ژوند پر کوي، ځکه ماران تل پر داسي مځکو ژوند کوي چي هغه د زلزلو او مځکي ښویدلو پر وړاندي مقاومت ولري.

6-د اوبو ځاه‌ګاني مو په هغه سیمو کي وکنئ، چېري چي مرغۍ له ګرمۍ څخه پټېږي، ځکه مرغۍ په هغه ځای کي ژوند غوره کوي چېري چي اوبه لنډي او نیژدې وي.

7-هغه وخت ویدېږئ او هغه وخت راویښېږئ چي مرغۍ خوب ته ځي او راویښېږي، دا بریالیتوب ته ترټولو لنډه لار ده.

8-ډېر سبزیجات خورئ، بیا به د ځنګل د حیواناتو غوندي قوي پښې او کلک زړونه لرئ.

9-هرکله چي وخت او موقع ولرئ اوبو ته ځان ورغورځوئ او لامبو وهئ، ځکه تاسي به پر وچه داسي یاست لکه د اوبو ماهیان.

10-هرخومره چي کولای سئ آسمان ته ګورئ، ځکه افکار به مو تل روښانه او پاک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


سریزه ..... 2
آیا زحل سیاره پیژنی ؟ ..... 3
د نړۍ تر ټولو چټل سړی ..... 4
ویټامین بی دوه ( Vitamin B2 ) Riboflavin ..... 5
#طبیعي_درمل_انګور_وپیژنئ! ..... 6
د نړي ترټولو کوچنۍ کیمره ..... 6
په سمندر کي روښانه ستوري؛ ..... 6
د ګوګل کمپنی په اړه ..... 6
د غوماشي ډېر حیرانوونکی جوړښت؛ ..... 7
د سترګو شاوخوا تور داغونه لاملونه ..... 8
د هګۍ حیرانونکي ګټي ..... 8
د نن نړۍ تر ټولو ظالم انسان وپیژنئ ..... 8
د کنیو د اوبو له ګټو خبر یئ؟ ..... 9
د غاښنو د درد اسانه درملنه ..... 9
دشپي لخوا په رڼا کي خوب کول دماغ ته نقصان رسوي! ..... 11
د شاتو مچۍ په اړه خوندور معلومات ..... 11
چین درستي نړۍ ته وړیا انټرنیټ ورکوي ..... 11
تاسو پوهیږئ! ..... 12
انسان ارزښت ..... 12
د هلمند د باستین ښارګوټي په اړه جالب معلومات؛ ..... 12
د الاسکا هیواد ښآر ..... 13
آیا پوهیداست؟ ..... 13
انـتـی بـیـوتـیـک درمـل ( میکروب ضد درمل ) ..... 13
امازون_ځنګل | د نړۍ یو تر ټولو لوی ځنګل! ..... 16
*~لاندي کرني مو دویني فشار کموي او منظموي.~* ..... 16
د_قران_کریم_په_اړه_په_زړه_پوري_معلومات ..... 16
مهمي او ګټوري سپارښتني: ..... 19
دمؤمن معناء ..... 20
د موبایل زیان ..... 20
کمپیوټر ساینس یعني څه؟ ..... 20
په قرانکریم کي د سترګي په اړه پټ راز ۱۴۰۰ کاله وروسته کشف شو؛ ..... 25
په دري دقیقو کي د غاښنو ښکلا تر ټول اسانه لار ..... 26

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان له جنګه کرکه لري ... 26
عجيبه او درد ناکه قيصه ... 26
««جالب سوالونه اودهغوی جوابونه»» ... 27
سپي ولې وفادار دي ... 29
د بهلول دانا يو عجيبه قيصه ... 29
جالبې. خبرې ... 30
نه ختميدونکي ګناه ... 32
دوه شيان چې زياتوالی يې انسان د تباهۍ کندې ته وړلی شي! ... 33
د يو ډاکټر پوښتنه ... 33
د اوبو خرس ... 33
د نړۍ ترټولو کوچنۍ تفنګچه ... 33
د يو حبشي غلام حيرانونکي قيصه ... 34
د شيطان مرسته ... 34
درې ګوتيزه نقشه ... 35
د نړۍ تر ټولو اوږد سړک ... 35
د انسان د بدن په اړه حيرانوونکي معلومات ... 35
د اوښکو په اړه حيرانوونکي معلومات؛ ... 36
د دوزخ د (7) طبقو په اړه معلومات؛ ... 37
د رسول الله ﷺ ليک؛ ... 38
د نړۍ تر ټولو ويجاړوونکې او ګران بيه ماده▪ ... 39
د ځينو لکۍ لرونکو سيارو په اړه لنډ معلومات ... 39
عجبِ ذنب Tail bone او ميډيکل ساينس ... 40
الوتونکي موټر ... 40
سيلوا نومي ښځه خپل زړه په بيک کې ګرځوي ... 41
وروستي پيژندل شوي حيوان ... 41
هغه مرغه چې د سمسارې له خولې غذا راوباسي؛ ... 41
ډالفين «دولفين» کبان ... 42
د دوبۍ په دښته کې د دوو جوړه زوړنو جهيل! ... 42
په نړۍ کې د ځينو هيوادو قانوني معلومات ... 43
وزر لرونکي مرمي ... 45
په امريکا کې پوليس په درې ورځو کې قاتل نه شي نيولاي ... 45
د مرغيو ګټه ... 45
د خوشالۍ نړيوال راپور! ... 46

(c) ketabton.com: The Digital Library




د نړۍ ترټولو کوچني هیواد ........ 46

د ښیښې ساحل کالیفورنیا | Glass Beach California: ........ 46

د امریکا په متحده ایالاتو کي شني اوبه ........ 47

که څه هم لیکنه اوږده ده خوډیره جالبه ده! ........ 47

د ایټالیا په روم ښارکي Appian way سړک ........ 48

د فیسبوک کمپني په اړه یو خنده ونکي راز ........ 48

تیز رفتار الوتونکي ........ 50

د لمر د تودوخي اندازه؛ ........ 50

د پخونیو عربانولـــــــس تجربي ........ 51

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ليکوال پيژنه

نوم يي سهيل احمد د پلار نوم يي رحمت الله دشينوارو ولسوالۍ د ده بالا اوسيدونکی . په ۱۳۸۶ کال دجدي دمياشتی په ۱۵ نيټه زيږيدلی دی لومړنۍ زده کړي يی داستقلال عالي ليسه کی وکړي بيا د نقل مکان له امله د عبدالرحيم نيازي ښونځي ته ځان تبديل کړ متوسطه زده کړي يي د عبدالرحيم نيازی ليسه کي وکړی خو ديوی ستونځی له امله بيا د عبدالوکيل عالی ليسی ته تبديل شواو ليسه يي هلته پاي ورسوله او همدارنګه په کمپوټر کي هم تر ډيره مهارت لري او د خپلو ځينو کتابونو ايډيټ هم کړي

**السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته**

**دغه کتاب کي ځيني غليطياني اصلاح شوي مګر انسان بيا هم کمزوري دي که چيري کومه غلطي وليدل شوه نو دغه واټسپ شميري سره په اړيکه کي شئ ياهم د غلطی عنوان ميسيج کړئ ترڅو يي بيرته اصلاح کړو .**

**والسلام**

**0787234821**

**سهيل احمد «صفدري»**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**